PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مـــراة الجـهـــاد

لومړي کال ، ۵۱مه گنه چهارشنبه ، د ۱۳۷۰ هـ ش کال دسنبلي ۱۳

قلت مواد غذایی در کابل همزمان با زوال قدرت ملیشه گلم جم

اطلاعات رسیده از شهر کابل به اداره میدیا حاکیست که بعد از کودتای نافرجام اخیر در مسکو شیرازه قدرت ملیشه های بدنام گلم جم بحیث یگانه مدافع رژیم کابل درحال فروپاشیدن است .

همچنان اطلاعات مذکور می افزاید بلند شدن قیم وقلت مواد اولیه خوراکی که به نسبت کم شدن کمك های روسیه به کابل پیدا شده شهریان کابل رابه ترس وهراس مبتلا ساخته .

هم اکنون قیمت یك قرص نان که قبلاً ۳۰ افغانی بود به ۵۰ افغانی بلند رفته قیمت هفت کیلو پیاز ۱۵۰۰ افغانی وقیمت هفت کیلو کچالو به ۴۰۰۰ افغانی بلند رفته .

خبر می افزاید شهر کابل برق ندارد ، وادویه ضروری در شفاخانه ها وادویه فروشی ها پیدا نمی شود ، که به این ترتیب وضع زندگی درکابل خیلی درهم وبرهم می باشد .

امریکا آزادي جمهوریت هاي بالتیك رابرسمیت شناخت

واشنگتن ، ۱۲ سنبله :

قرار اطلاع آژانس هاي بین المللي ایالات متحده امریکا ازادي جمهوري هاي بالتیك روسیه (لیتوانیا ، لتویا ، واستونیا) رابرسمیت شناخته وخواهان روابط سریع دیپلوماتیك شده است.

جارج بش طي یك کنفرانس مطبوعاتي موقف حکومت امریکا را درمورد اعلان نمود ، گفت که ایالات متحده امریکا خواهان برقراري هرچه زودتر روابط سفارتي بااین ۳ جمهوري است .

قابل یاداوري است که تاآکنون ۳۰ کشور جهان ازادي جمهوریت هاي بالتیك روسیه را برسمیت شناخته اند .

الحاج مولوي جلال الدین حقاني دشهید ککوخان دفاتحې په مراسمو کې :

جهادالله (ج) له خوا مورته نعمت ، عزت اوکرامت دی، څومره چی دوام کوي زموږ دعزت اوویاړخلي لوړیږي

په ۲ مخ کي

دننگرهار په ولایت کی د خاد ۵ تنه جاسوسان نیول شوی

ننگرهار ، میدیا :

دننگر هار ولایت څخه میدیا ته په رسیدلو رپوټونو کې ویل شوی دی چی ددی ولایت دخوګیانو په ولسوالی کې مجاهدینو درژیم دخاد یوه شبکه چی ددیری مودی راهیدی خوا په دغه ولسوالی کې په فعالیت بوخته وه تیره اونی کشف اودهغی ۵ تنه مشران یی نیولی چی نومونه یی دادی .

اسرائیل ، ظهور ، ملك محمد عالم ، ملك شاه ولی ، ایوب

رپوټ وایی چی نوموړی کسان اوس په دغه ولسوالی کې دمجاهدینو دمحلی قوماندانانو شورالخوا دتحقیق اوڅیړنی لاندی دی .

په رپوټ کی ویل شوی چی دغه جاسوسانو ته درژیم له خوا نقدی پیسی اومنفجره مواد ورکول کیده چی دمجاهدنو قوماندانان اونور مهم شخصیتونه ووژنی .

په رسیدلو رپوټونو کی ویل شوی چی څو موده دمخه دننگرهار ولایت په سرخرود اوخوګیانو کی دوه دادسن موټرونه دماینونو په واسطه له منځه وړل شوی چی په هغی کی ۱۱ تنه مجاهدین او یو شمیر ولسی خلك په شهادت رسیدلی ؤ اوپه هغی کی هم دغه ډله ملوثه ده.

دغوراو هرات په ولایتونو کې دمجاهدینو بریدونه

غور ، میدیا :

دغور له ولایت څخه رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدینو دسنبلی په ۹ مه نیټه پدغه ولایت کی دشهرك دولسوالی پر پوستو برید وکړ چی په نتیجه کی دکابل رژیم دقواؤ دوه عرادی زغره وال ټانکونه ویجاړ اوسپرلی یی له منځه تللی دی .

دغه راز دهرات لـه ولایت نـه قوماندان اسماعیل خان رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دسنبلی په ۹ مه دزنده جان په ولسوالی کی دپل بازارك په سیمه کی درژیم پر ځای پر ځای شوو قواؤ باندی عملیات ترسره کړل چی دهغی په اثر دکابل رژیم یو شمیر پوځیان مړه اودوه پوځی ځالی دیو شمیر درندو وسلو سره لـه منځه وړل شوی دی.

په غزنی کی درژیم یو هلیکوپتر ویجاړ او ۱۵ تنه دخاد غړی وژل شوی

غزنی ، میدیا :

دغزنی له ولایت نه میدیا ته رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدینو دغزنی په ښار کی دروسانو پر یونټ ، دفرقی پر تعلیمی میدان اودښار په امنیتی پوستو ددرندو وسلو څخه په استفادی سره یو لړ بریالی عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی درژیم یو هلیکوپتر په یو پوځی سیمه کی ویجاړ شوی اوپه تعلیمی غنډ کی (۱۵) تنه دخاد غړی وژلی شوی دی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جګړه کی درژیم یو شمیر کلکی پوځی ځالی او نقلیه واسطی له منځه وړی اواوه تنه عسکر اوملیشه ددوه میله کلاشینکوفونو سره ژوندی نیول شوی دی .

مولوي جمیل الرحمن په شهادت ورسید

په ۵ مخ کي

ایران دغربی یرغملو بی له قید وشرط خلاصیدل ونه منل

ایران ، دسنبلی ۱۱ مه :

دیوخپور شوی خبرله مخی دایران دبهرنیو چارو وزیر علی اکبر ولایتی ویلی چی غربی یرغمل به ترهغه وخته پوری خوشی نکړای شی ترڅو پوری چی داسرائیلی زندانونو څخه . . ۴۰ تنه عرب نه وی خوشی شوی نوموړی داخبره دملګرو ملتوداستازی سره دلیدنی کتنی په وخت کې چی دیوه پلان له مخی دیرغملو دخوشی کولو لپاره راغلی ؤ،وکړه .

په څلورمي اوپنځلسمي زغره والي قوي باندي بريدونه

کابل ، میډیا :

دکابل له ولایت څخه رپوټ ورکړشوی دی چی دکوه صافی مرکز مجاهدینو دکابل په لمر ختیځ برخه دڅرخی پله په سیمه کې درژیم پرڅلورم او ۱۵ ام نمبر زرهدارو قواؤ باندی ددرندو وسلو اوراکټونو په واسطه دسنبلی په ۴ مه نیټه بریدونه وکړی چی په نتیجه کې دکابل دقواؤ یو شمیر سنگرونه ویجاړ شوی ۳۵ تنه عسکر اوملیشه وژل شوی اویو شمیر نور سخت ټپیان او رژیم ته درانده مالی تاوان اوریدلی دی .

پدی جګړه کې درژیم د قواؤ دوه توسلو ډیپوگانی دوه عرادی زرهپوش ټانکونه اوپه نظامی موادو بار یوه لاری داور لمبه شوی اوپنځه تنه عسکراوملیشه دپنځه میله وسلو سره اسیر نیولی شوی.

درژیم دملیشو ۱۳۰ تنه مجاهدینو ته تسلیم شول

جوزجان ، میدیا :

میدیا دجوزجان له ولایت نه رپوټ ورکړی چی دمحمد گل تر مشری لاندی ۱۳۰ تنه دکابل رژیم ملیشه دسرپل دولسوالی په مربوطاتو کی مجاهدینو ته تسلیم شوی دی .

رپوټ زیاتوی چی نوموړو ملیشو له ځانه سره دوه میله دهشکی څلور میله راکټ ، لس میله درندی ماشینداری [illegible]

دپولینډ دولت کابینی استعفا وکړه

وارسا ، دسنبلی ۸ مه :

دپولینډ صدراعظم ولچیخ یاروز یسلکی ددی هیواد پارلمان ته ویلی دی چی دده دولت دکمونستانو پر هغه غوښتنو داحتجاج په دود استعفی کوی چی په هغی کی دده ددولت داستعفی غوښتنه شوی ده .

ویل شوی چی کمونستانو دغه غوښتنه پدی دلیل کړی ده چی هغوی ددولت پر عمومی مصارفو اولګښتونو باندی اعتراض درلود.

صدراعظم ویلی چی کمونستان نه غواړی له پنځوس کلووروسته په پولینډ کی دلومړی ځل لپاره ازاد او دمنلو وړ انتخابات وشی.

مجاهدین کابل سه پوسته رژیم را فتح نمودند

کابل ، میدیا :

میدیا از ولایت کابل راپور داد که مجاهدین پوسته های علاقه داری خاك جبار درجنوب شرق کابل را هدف سلاحهای ثقیله قرار دادند که در نتیجه سه پوسته بدست مجاهدین افتاده تعدادی ازعساکر وملیشه هلاك ویازخمی گردیدند .

راپور می افزاید درین حادثه سه عراده تانك ، یکدستگاه بی ام ۴۱ ویکدستگاه بی ام ۱۳ تخرب وازبین رفته است .

طبق راپور مجاهدین در ین عملیات تعدادی سلاح با مقادیر زیادی ازمهمات ومواد لوژستیکی رانیز به غنمیت گرفته اند .

دشهید ککوخان لنډژوندلیك

په ۵ مخ کي

الحاج حقاني دالاتحاد دجریدې له خوا په جوړې شوې مطبوعاتي غونډې کې دیوې پوښتنې په ځواب کې وویل :

زموږ پاڅون کومه قومي ، قبیلوي اوسیاسي شخړه نه ده ، بلکه دادخدای (ج) درضا اواعلاي کلمة الله په لار کې شرعي جهاد دی

په ۷ مخ کي

سرمقاله

هفتاد سال حیات ننگین وسیاه وپایان شرمناك کمونیزم روس

بجاست اگر دودهه اخیر قرن بیست رادهه های انحطاط وسقوط هیولای کمونیزم بنامیم کمونیزمیکه هفتاد واند سال غرید اقلیم هارادر نور ید وملیونهاانسان راچون سبزه دروکرد وبربوستان سرزمین ها چون تگرگ نازل گشت وطراوت وشادابیهارا برباد فنا داد .

کمونیزم امروز درزادگاهش دربرابر دیده گان ملیونها مردم روسیه وتوده های ملیونی مردم جهان سخت زبونانه دربرابروجدان بشریت باچهره سیاه وکریه ومنفور دراوج تنفر بشریت بزانو درامد وبا ینترتیب به عمر ننگین هفتادو اند ساله خویش که پراز وحشت ، بربریت بی رحمی علیه انسانهای بی دفاع بود برای خویش نقطه پایان گذاشت .

کودتای ۲۸ اسد ۱۳۷۰ ازجانب تندروان حزب کمونست روس اخرین تلاش احمقانه کمونست های روس بود جهت احیای یکه تازی دد منشانه گذشته شان که در اثر شکست مفتضحانه اردوی شان در افغانستان به حیثیت شان لطمه شدید وارد امده بود .

درصفحه ۸

زموږ دجهاد پرضد توطئي اودسیسې په ډیر شدت جریان لري اوپه هغو کې هغه هیوادونه هم برخه لري چې موږېري دجهاد دحامیانو گومان کاوه «الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : ۱۳۶۹ هـ ش

ددري اړخيزو خبرواترو ددويم پړاو گډه اعلاميه او نتايج

س ، م ، د

دافغانستان دقضيې دسياسي حل دلارو چارو دپلټني په اړه ددري اړخيزو خبرو اترودلړۍ دوهم پړاو چي دځينو جهادي ډلو په شمول يکې ايران او پاكستان برخه وال وو، اودوه ورځي يي دايران داسلامي جمهوريت په مركز تهران كي دوام وكړدتيري پنجشنبي په ورځ دسنبلي دمياشتي په اوومه نيته چي داگسټ دمياشتي له ۲۹ نيټي سره سمون خوري بي له كومي مطلوبي نتيجي ديوي اعلاميي په صادرولو سره پاى ته ورسيد .

په دغو خبرو اترو كي په پيښور كي دميشته جهادي تنظيمونو له ډلي څخه ديو شل كسيز هيئت په تركيب كي چي مشري يي ظاهراً دمحترم حضرت صاحب صبغت الله مجددي په غاړه وه دافغانستان داسلامي جمعيت ، دملي نجات جبهه ، ملي اسلامي محاذ ، دمحترم مولوي صاحب محمد نبي محمدي په مشري دافغانستان اسلامي حركت ، دافغانستان دمجاهدينو داسلامي اتحاد دداعيي اودمحترم مولوي صاحب نصرالله منصوراومولوي صاحب رفيع الله مؤذن په مشرۍ دافغانستان اسلامي حركت ډلو استازيو گډون كړى و اودكور به هيواد (دايران اسلامي جمهوريت) په نمايندگۍ ددغه هيواد دبهرنيو چارو وزير ښاغلي علي اكبر ولايتي اودپاكستان داسلامي جمهوريت نمايندگي ددغه هيواد دبهرنيو چارو وزارت سكرتر جنرال اكرم ذكي كوله .

غونډۍ ته په ترتيب سره ښاغلودكتور علي اكبر ولايتي ، اكرم ذكي ، حضرت صبغت الله مجددي ، دحزب وحدت نماينده رحمت الله مرتضوي ، مولوي نصرالله منصور استاد برهان الدين رباني ، پير سيداحمد گيلاني ، مولوي محمد نبي محمدي ، دكتور عبدالحي او ... خبري وكړي .

ددغو خبرو اترو په لړ كي په طرحه شويو پيشنهادونو جرو بحث وشو اوپه پاى كي ديو پريكړه ليك په ترڅ كي گډه اعلاميه صادره شوه چي ځيني دكتني وړ ټكي يي دادي :

۱- دخبرواترو دالړۍ دي جاري وساتل شي اوپه راتلونكي كي دي دخبرو اترو دريم پړاو په اسلام آباد كي جوړشي .

۲- دروسانو دمزدور رژيم له مشر نجيب سره دي اړيكي نه ساتل كيږي .

۳- دپاكستان له حكومت څخه درياض احمد خان ، دايران دحكومت په نمايندگي موسوي اودجهادي تنظيمونو دځو تنو په شمول اوغړيتوب دي يوه كميته جوړه شي څو طرحه شوي پيشنهادات ترغوراو څيړني لاندي ونيسي اوراتلونكي غونډي ته دي يي وړاندي كړي .

٤- دمجاهدينو هيئت دي نيغ په نيغه له روسانو سره خبري وكړي اوپه دي لړ كي دي مسكو ته خپل هيئت وليږي ، همدارنگه پريكړه وشوه چي په ايران اوپاكستان كي د ميشته جهادي تنظيمونو يو هيئت دي دافغانستان دقضيي دسياسي حل په اړه دملگرو ملتونو له سر منشي سره ليدنه كتنه وكړي اوخپلي غوښتني اونظريات دي هغه ته وروړسوي او ....

كه ددغه دري اړخيزو خبرواترو جريان،پريكړي اومشتركه اعلاميه په ژوره توگه تر غور اوڅيړني لاندي ونيسو نو دلومړي غوندي په پرتله يكي هيڅ ډول د كتني وړ انكشاف اوپرمختگ چي دحالاتو غوښتنو او زموږ دمجاهد ملت هيلو اوآرمانونو ته دقناعت وړخواب ووايي ، نه ليدل كيږي،بلكه دخبرواترو داپړاو له لومړي پړاو څخه كمزوري ، بي واكه اوبي ځواكه ښكاري .داځكه چي ټولو جهادي ځواكونو يكي برخه نه درلوده .دمولوي صاحب محمد يونس خالص په مشرۍ دافغانستان اسلامي حزب دغه خبري اتري له پيل نه رد كړي اوهغه يي بي گټي بللي دي

په(۷)مخ كي

جهاد الله (ج) له خوا موږ ته نعمت ، عزت اوكرامت دي، څومره چي دوام كوي زموږ دعزت اوويارڅلي لوړيږي

درنو لوستونكو !
نوماند مجاهد الحاج مولانا جلال الدين حقاني دروان كال دسنبلي دمياشتي په (٤) نيټه دبړه بيري په كمپ كي دشهيد ككوخان په فاتحه كي چي دسنبلي دمياشتي په لومړۍ نيټه په زرمت كي دشهادت لوړ مقام ته رسيدلي ؤ ، عالمانه وينا وكړه،چي موږ يي دلته خپروو.
« اداره »

بسم الله الرحمن الرحيم
الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالانبياء والمرسلين اما بعد :

زما قدرمنو وروڼو !
نن موږ بيا ديوه شهيد دفاتحې په تغر ناست يو اودخپل شهيد ورور دجهاد اوشهادت خاطري اويادونه اودهغې ايثار اوقرباني لمانځو اودرناوي يي كوو .

عزتمنو وروڼو !
ديوه مسلمان مكلفيت اووجيبه ده چي دځلور شيانوبدل واخلي،په جگړه

كه چاپه جهاد كي يوه شپه هم پيره وكړه ، يايي له مجاهدينو اودهغوي له كورنيو سره مرسته وكړه دعايي ورته وكړه ، داټول په جهاد كي برخمن دي .

لاس پوري كړي اودجهاد ميدان ته ورځي - په هغو كي يو دمسلمان ژوند دي - كله چي په كوم مسلمان تعرض وشي بيا ده ته دځان دفاع روا اوحتي دده مكلفيت بلل كيږي.دوهم ناموس دي چي كله يو مسلمان ووينې چي ناموس يي په خطر كي دي نو دده مكلفيت دي چي وسله به رااخلي اومقابله به كوي - دريم دين او ايمان دي چي كله هم ديوه مسلمان ددينې شعايرو توهين اوتعرض پري وشي بيا پده جهاد فرض گرځي چي له تيري كوونكو سره مقابله اوجهاد وكړي.ځلورم ځمكه اوشتمني ده چي كله هم دمسلمان قوم او ملت په خاوره تيري كيږي نو په اوسيدونكو يي دتيري كوونكو مقابله اوجهاد فرض دي اوپه كوم ځاى كي چي داځلور واړه نواميسه په خطر كي ولويږي هلته نو له جهاد څخه پرته دمسلمان په وړاندي بله لار نه پاتي كيږي اومسلمان مجبور اومكلف دي چي وسله به اخلي او په جهاد به لاس پوري كوي .

په افغانستان په دغو ځلورو نواميسو تيري شوي ؤ له همدي امله له جهاد پرته ددي مقابله په بل څه نشواى كيداى - داوخت زموږ ملت ته دجهاد ضرورت و دصبر او استقامت ضرورت و اودمقابلي او ټينگار ضرورت

و.
زموږ دهيواد شپاړس لكه مسلمانان دروسي يرغلگرو اوملحدانو له لاسه شهيدان شول چي تراوسه داسلسله جاري ده په هيواد يي بهرني تيري شوي شخصي ځمكه او شتمني يي له منځه تللي

ددينې شعايرو توهين اوسپكاوي وشو - جوماتونه اودينې مدرسي ويجاړي كړي شوي دخلكوناموس له خطر سره مخامخ شو - لنډه داچي زموږ په ځلورو واړو نواميسو تعرض شوي و نو ددغو نواميسو دگټلو په خاطر جگړي او مقابلي ته جهاد ويل كيږي اودادمسلمان فرض اومكلفيت دي .

وروڼو!جهاد دالله تعالى له طرفه زموږ دملت يو ډير ستر اعزاز او افتخار دي - دادعزت تاج دي چي الله تعالى زموږ دملت په سر ايښي - دابايد موږ تكليف اوكړاو ونه گڼو كه موږ له ځان سره فكر وكړو نو څرگنده به شي چي دا اعزاز الله تعالى ولي دنورو ملتونو په برخه نكړ الله تعالى دغه جهاد په پاكستان ، عربو ، ليبيا - سوريه او يمن كي هم قايمولى شواى خوداچي ددغه عزت مهرباني يي زموږ په ولس وكړه داځكه چي زموږ په مجاهد ولس كي صبر و ، شجاعت او ثبات ؤ اودايقين و چي دالله تعالى په لار كي وژل شوي ته مړ نشي ويل كيداى الله تعالى ټولي نړۍ ته دافغانانو شجاعت ، ميړانه او قهرماني وروښودله نو ځكه موږ بايد داجهاد دخداى قهر ، او تكليف ونه گڼو بلكي خپل او دخپل ملت هغه لوى عزت او اكرام يي محسوب كړو

چي دالله تعالى له لوري پر موږ لوربينه شويده.

الله تعالى فرمايي پدي معنا چي:داخداى په لار كي مړه ته مړ مه وايي هغه ژوندي دي دابد لپاره ژوندي دي ، الله تعالى خلك شهيد ته دمړه له ويلو منع كوي په يوه بل مبارك آيت كي فرمايي:

چي په شهيد دمړه گومان هم مه كوي معنا داچي په خيال او گومان كي هم بايد داونه گرځول شي چي شهيد گني مړدي .

زما مجاهدينو وروڼو !
دشهيد روح الله تعالى په خپله اخلي - ملك الموت يي نه اخلي،الله تعالى ورته دشفاعت كولو اجازه وركوي - دشهيد په شفاعت ددوزخ مستحق ۷۰ كسان بخښل كيږي - داشمير يواځي په ۷۰ كي محدود ندي بلكي څومره چي شهيد په خپلو عزيزانو اشنايانو اوخپلوانو دوزخ ته په تلو خپه كيږي

الله تعالى هغوي ته عفوه كوي ... دشهيدانو يو بل فضليت داهم دي چي ددوي شفاعت په ټولو امتونو كي چليږي يعني داچي شهيد دهر امت دافرادو شفاعت كولى شي .

محترمو وروڼو !
شهيد ته دځنكندن هيڅ تكليف نه شته حتى هغه له ځنكندن څخه خوند اخلي ځكه خو دشهيد دځنكندن خوند په جنت كي هم نشته .

شهيد ټولي هيلي به پوره كولى شي له هغه به پوښتنه كيږي چي څه شي غواړي شهيد به وايي چي ماپه جنت كي داسي څه وليدل اوونخوړل چي هغه مي نه په دنيا كي ليدلي و اونه مي خوړلي و

خو يواځي دشهادت دځنكندن خوند مي ندي څكلي ځكه خو شهيد داهيله كوي چي الله تعالى هغه څو څوځلي دحق په لار كي شهيد اوبيرته ژوندي اوبيا شهيد كړي .

زما محترمو وروڼو ! په دنيا كي چي هرڅوك وفات كيږي كه هغه پيغمبر وي كه قطب وي اوكه شيخ الحديث نو له وفات كيدو وروسته به غسل وركول كيږي خو دايواځي دشهيد امتياز دي چي هغه ته به غسل نشي وركولى اوپه تخته به نه لوڅيږي شهيد به په خپلو وينو كي دالله تعالى حضور ته وړاندي كيږي حضرت پيغمبر (ص) فرمايي دقيامت په ورځ به زلزله راشي اودخلكو په منځ كي به يوه لار جوړه اوخوشي شي اوشهيدان به پخپلو وينو دالله تعالى حضور ته روان شي،رسول الله ص فرمايي چي كه حضرت موسى ع اوحضرت عيسى ع هم په دغه لار كي ولاړ وي هغوي به هم شهيدانو ته لار پريږدي دشهيد له بدن څخه چي دمچ دسترگي په اندازه وينه هم ووځي نو الله تعالى يي ټول گناهونه معاف او وربخښي .

وروڼو!له پيغمبرانو وروسته

حضرت پيغمبر (ص) فرمايي دقيامت په ورځ به زلزله راشي اودخلكو په منځ كي به يوه لاره جوړه شي اوشهيدان به په خپلو وينو دالله تعالي حضور ته روان شي

دالله تعالى په دربار كي دغازيانو اوشهيدانو په څير بل گران او محترم څوك نشته

زما عزتمنو وروڼو !
موږاو تاسي بايد داونه وايو چي زموږ دجهاد موده اوږده شوه - ځكه جهاد دخداى نعمت دي دالله تعالى له طرفه عزت او كرامت دي هرڅومره چي جهاد دوام كوي په هغه ملت كي دعزت او افتخار څلي زياتيږي اولوړيږي - پريږده چي زموږ ملت ټول افراد چي كه هغه ماشومان هم دي په جهاد كي شامل شي - هغه چي لاتراوسه په جهاد كي ندي شامل هغوي هم په جهاد كي برخوال شي اوهغه څوك چي

پاتي په (۵) مخ كي

دجهاد فلسفه: دجهاد حیثیت

وروستي برخه :

مولانا عبدالمجید

جهاد دهغه تحریك اوعمل نوم دی کوم چی دځمکی پرمخ دکفر ، ظلم ، بربریت ، وحشت ، جهالت ، استبداد ، ځانځانی انحطاط ، بی عدالتی ، بی کفایتی ، استعمار ، استثمار ، استخمار ، فحشا ، تشتت ، لوټماری ، بی شرفی ، انساندښمنی ناروا ، تیری ... قصرونه نړوی اوپر ځای یی داسلامیت ، عدالت ، شرافت ، انسانیت ، محبت ، ځان تیریدنی ، انساندوستی ، ریښتنی وروروګلوۍ ، برابری ، قربانی ، عزت ، وقار ، ابرو ... دنګی دنګی مانی ابادوی ، جهاد دمظلومانو ، خوارانو ، غریبانو ، بیوزلو ، یتمیانو ، کونډو رنډو ، بیوسو ، غمجنو، دربدرو ، دخپل حق څخه محرومو ... شریفو ، اصیلو انسانانو ته دسخت زړو ، تورزړو، مستبدینو ، وینه بیوونکو ، یرغلګرو ، تاړاکګرو ، وحشت ګرو ، بی پتو ، بی رحمو ، استکبارګرو ، بی ایمانو ، بی دینانو ...له ناولو منګلو څخه ژغوری دمظلومو انسانانو دروحونو اوبدنونو درنځونو مناسبه دوا تهیه کوی دمظلومانو نورمیړونو زړی رسی ظالمانه یوغونه ، دلاسونو ولچك ، دپښو سنګینی زولنی ... محو کوی دجابرو ستم ګرو د لاسه شریف انسانان دظلم ، جهل ناپوهی ، استبداد ...دتورو تیارو څخه دانسانیت روڼی فضا ته

> نن ورځ ګېنې ناپوهه اوکم تجربه خلك دیته هم انقلاب وایي چې یوطاغوتي نظام په بل طاغوتي نظام باندي بدل شي

راباسی هسی فضا چی انسان ته پکی واقعاً دهغه دمعنوی ، عمل ، نظری ... تشخص اواستعداد سره سم روا حق ورکول کیږی .

جهاد دهغی لاری مسلك او فورمولبندی نوم دی چی ظاهراً ډیر تریخ اودمشکلاتو څخه ډك ښکاریږی اما نتایج یی ډیر خوږه اوپه زړه پوری دی .

هغه دا چی جهاد په دنیایی ژوند اوچارو کی هرنوع (ډول) ظلم ، ناپوهی ، بربریت ، انسان دښمنی ، فطرت دښمنی ... نابودوی دباطل سته باسی اودحق تحقق راولی ، اوداخرت دابدی (چی اخر نلری) ژوند لپاره توښه جوړوی .

علامه بهاری د خپل کتاب (مسلم الثبوت) په متن باندی یو عبارت کښلی چی وایی« ان العطایاعلی متن البلایا»(ورکړی او نعمتونه دتکلیفونو ، مصیبتونو اومشقتونو په شابار دی یعنی په ریښتنی صبراوتحمل سره دمشکلاتو اومصیبتونو دګاللو اومقابلی کولو څخه وروسته نعمتونه اوعطیی ورکړی) ورکول کیږی .

دمزدوری څخه دمخه دمزد غوښتل اوارزو کول چندان معقول کار نه ښکاری ، هره کامیابی ، خوشحالی اومقصود ته رسیدنه چی دمشقتونو په نتیجه کی لاس ته راشی هغه ډیره خوږه اوارزښتناکه وی یوخوداکیدای شی چی هغه کاراوشئ ذاتاً ښکلا او لطافت ولری خوچی هر څومره په ډیرو ستونزو ګاللو لاس ته راشی همغومره یی خواږه زیات اواثر یی ښه اوکوټلی وی .

ځوك چی دخدای (ج) محبوب اودوست وی په هغه باندی ډیری ازموینی رادرومی اودنورو خلکو په نسبت درنی اوثقیلی هم وی .

سخترین امتحانونه اوازموینی په انبیا (ع) باندی راغلی ورپسی په هغه چا چی دوی ته په درجه اومرتبه کی نږدی وی راغلی او راځی دازموینی له ډګر څخه چی هر چا حقیقتاً بری وموند نو بیا الله (ج) په دنیا اواخرت کی انعامات ورکوی دبیلګی په ډول کله چی ابراهیم علیه الصلوة والسلام الله (ج) په یو څو مواردو اوموضوعاتو کی و ازمایه چی دامتحانونو دتشریح اوتفصیل داسلام دحقیقی دین په تاریخ اومحتوا کی ثابت پروت دی (تفسیر اوتاریخ ته باید رجوع وشی) کوم وخت چی دازموینی څخه په بری سره راووت نو الله (ج) ورته وفرمایل ستادمشقتونو دګاللو په بدله کی تاددی ملت اوقوم لپاره امام (امر ، خلیفه ، پاچا) جوړوم .

چی په دی امتحان کی ځانی ، مالی ، عیالی (اولاد) ژبنی ... جهادونه او هجرت هم شامل ؤ .

څومره چی ازموینه درنه اوسنګینه وه په همغه انډول درانده او سنګین انعامونه الله (ج) ورته ورکړل .

یوه تجربی مقوله ده چی هر میراثی شی دانسان په نظر دهغه څه څخه ډیر کم ارزښته وی کوم چی ده پخپله په زحمت اوخواری لاس ته راوړی وی ددقیقی نظر ځیرنی څخه جوته کیږی چی اصلاً خوند ، خوږلنی اولذت دهغه تکلیف اومشقت دی کوم چی ده په ځان باندی منلی وی یا لذت اومزه دزحمت اوصبر یو بل شکل دی .

لذا هرانسان ته ښایی چی دژوندانه په دریاب کی دطوفانونو مقابله وکړی په لوړو ژورو کی هلی ځلی وکړی ترڅو دامیدونو ، راحتونو ... ګودرته ورسیږی جهاد دانقلابونو دموږحیثیت لری انقلابونه زیږوی اوپالی

په ۵ مخ کې

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې

په تیرپسي : دعوض الدین «صدیقي »ژباړه

ښایی هغوي به دروسانو له حملې خبر ؤځو موږ ته به قوماندان امرکاوه چی حیوانات اومرغان هم له منځه یوسی په هغی به یې هم چې زړه تصلی ونه کړه نو ویل به یې کروندې یې وسوزوی کله چې کروندې سوزیدلې یوه پوځی په ډډغږ ترې وپوښتل : اشرار ! زموږ دښمنان دي دهغوي له منځه وړل زموږ کار دې ، نو دې پټیو او کروندوله موږ سره څه کړي؟

په دې پوښتنی سره قوماندان پرهغه دځپیړو او کنداغونو باران جوړ کړ او ورته وی ویل : څه چې درته ویل کیږي عمل پرې کوه ګنی راتلونکي به دې ښه نه وي په کومو ورځوکې چی « سکورا» په روسي پوځ کې وه په هغه وخت کی به یی هم د مجاهدینو دحالت ارمان کاوه او دځان سره به ویل : چی چیرته وغواړی تلې شي چیرته چې وغواړی شپه تیرولې شي خلك دهغوی لارې څارې په هر کور کې خلك ډوډۍ ورکوې دهغوې استقبال کوونکې پرې ګلان شیندې او دوی برعکس روسي پوځیان چې چیرته لاړشی پرهغوی کرکه اوروي او له هغوی کرکه کوی ښځې او ماشومان پرلاړی او تیرېږی اوروي .

ځوان «سکورا » چی اوس یی عبدالله بولی روسي ته دتګ ټول امکانات ردوی په دې باب هغه وایی .

« هلته زما هیڅ شې نه دي پاتې نه مې دکورنی غړي ژوندي دي او نه مې نږدې خپلوان شته که کورنی می وې هم زه روسیي ته دتګ اراده نه لرم هلته هرڅه په کوپن لاس ته راوړل کیږی دخوړلو ډوډۍ ته به هم قطار کی دریږې او لاس ته به یی راوړې ټول خلك له دی ظالمانه تولنی په تنګ شوي ، د «کی ، جی ، بی څوره تل دخلکو پر سر ځلیږي ، په دی خاطر دی چی هیڅ روسي په خپله خوښه روسیۍ کی اوسیدل نه غواړي ، زه په دې خاطر راتښتیدلې یم چې نړیوالوته ووایم روسان په افغانستان کی څه کوي او په افغانستان کی دهغوي مداخلی له وجې افغانانو ته څه په لاس ورغلي زه بیرته څه ډول لاړشم ؟»

دیمابوالوف

«که دروسی پوځ مقابله دافغانستان له پوځ سره وی خو ساعتوکی به غالب شوی وی خو ددوی مقابله دافغان قوم سره ده او حالاتو ښودلی چی افغان قوم ته ماتی ورکولو دنړۍ دهیڅ قوت په وس کی نشته »

داخبره د « اوکرائن » ښار (۱۸) کلن «دیمابوالوف» دمجاهدینو په لاس ازادی شوی سیمی کی د « افغان نشراتی اژانس » سره په مرکه وکړه « نیکولایی دیمابوالوف » دمنځنی دوری ترپای ته رسولو وروسته څلور کاله دتریکتر د تخنیك په برخه کی روزنه وکړه دروزنی تر پای ته ر سولو وروسته هغه په دولتی ځمکو کی دنده واخیسته . په (۱۹۸۵)کال کی « دیمابوالوف» پوځ ته وغوښتل شو هغه دپوځی زده کړی په خاطر د « اولتانت »ښارته واستول شو ، هلته دټانك او ماشینګنی چلولو زده کړه وکړه په دی کی دده پرته (٤۰۰۰) نورو ځوانانو هم زده کړه کوله ، دروزنی ترپای ته رسولو وروسته یی « دیمابوالوف » د۱۲۰ تنو نورو پوځیانو سره کابل ته راولیږه ، په کابل کی دڅو ورځو ترتیرولو وروسته دهغه دملګرو سره یو ځای غزنی ته راولیږل شو ، دهغوی دلی په کلیو کی دبی وزلو خلکو په کورونو حملی اودهغوی څخه غلاوی کولی یوځل یی

> هلته زما هیڅ شي نه پاتي نه مي دکورني غړي ژوندي دي اونه مي نژدي خپلوان شته که کورني مي وي هم زه روسي ته تګ نه غواړم

نیکولایی دیوی دلی سره پرعلی خیل نومی کلی باندی حملی لپاره ورولیږه ، قوماندان هغوی په څلور څلورتنو وویشل اودپرمختګ امریی ورکړ ، هغوی ته امر وشو چی دکلی کورونه چور کړی کوم شی چی زیاته بیه نلری هغه ته اور ورته کړی اوکه څوك خند واقع کیدل هغه په ګولیو غلبیل ، غلبیل کړی ، ددی وحشت څخه دهغوی مقصد داو چی یو څو دسیمی خلك دروسی پوځ څخه وویروی ترڅو هغوی دمجاهدینو له ملاتړ څخه لاس واخلی اوهم نړیوالو ته داوښیی چی داتباهی مجاهدینو خپره کړی .

«ریمابوالوف » وایی : روسی پوځ دعلی خیلو په هره کوڅه کی له داسی مقاومت سره مخامخ شو چی دچوراوچپاول څخه ځانونه راونشوای باسلی ، ډیر ژر یی دپرمختګ مخه ونیول شوه اوبیرته راوتښتیدل .

تردی وروسته دیما نه په کومی جګړی کی دګډون موقع په لاس ورنغلله ، څو ورځی وروسته مجاهدینو دروسانو پر مرکز حمله وکړه اوهغه یی دړی وړی کړ.

دیمابوالوف وایی : ما په غزنی کی اته میاشتی تیری کړی چی مجاهدینو پری سخته حمله وکړه په دی حمله کی زیات شمیر روسی پوځیان مړه ، ټپیان او پنځه تنه مجاهدینو ژوندی ونیول

زه هم په نیول شوو پوځیانو کی شامل وم ، له کومی ورځی راهیسی چی زه له مجاهدینو سره یم له ماسره هیڅ دول بدسلوك نه دی شوی ، البته زه دجګړی له دګر څخه لری محفوظ اوخوشحاله یم »

مومنوف صاقوچ :

نولس کلن « مومنوف صاقوچ » په افغانستان دالوتکی څخه تر راکوزیدو وروسته شپږ ورځی تیری کړی چی مجاهدینو ونیوه او جنګی بندی وګرځید ، هغه دماسکو ښارد «راکتوفسکی » سیمی اوسیدونکی دی دمنځنیو زده کړو وروسته سمدستی د۱۹۸۳ کال په اکتوبر میاشت کی پوځ کی شامل کړای شوی ، او دمی په میاشت کی افغانستان ته راغی ، شپږ ورځی وروسته ونیول شو ، دهغه لنده مرکه سره لولو:

پوښتنه : افغانستان ته تر راتګ دمخه تاسوته څه ویل کیدل اوڅه در زده کیدل ؟

ځواب : ماته دټانك چلولو روزنه راکړشوه زما دغوند نمبر ۱۰۸۵۷ ؤ ماته یی دعشق اباد په هوایی ډګر کی چی دهغه ځای څخه یی افغانستان ته راستووویل چی پر افغانستان امریکا اودهغوی ملګرو پوځونو حمله کړی اوموږ دافغانانو مرستی ته ورلیږی .

پوښتنه : ایا تاسو په افغانستان کی بهرنی پوځونه ولیدل ؟

جهادي ادب

چې موږمات کړ نوپه ټول جهان کې مات شو
روس په چیغو په فریاد اوپه هیهات شو
دافغان غازي دتوري برکت ؤ
چې نسکور دکمونیزم سومنات شو

لنډه کیسه

پرده پوښ

سیدشهریار

دکابل په ښار دیوه اوږده سکوت اوچوپتیا فضا خپره وه ویري اوترهې په هر زړه کې نه ماتیدونکې سنګرنیولې ؤ دهریوه غوږونه دنوو خبرونو داوریدو لپاره هسك ؤ هریوه دبل نه دنوو معلوماتو دڅرګندولو غوښتنه کوله ، خو هیچا هم یوه بل ته دزړه خبره نه کوله هره یوه په خوله لاس ایښی ؤ یوه هم له ډاره غږ نه شو کولې اوهریو دهیبتونو په سمندر کې غوټې وهلې دویرې ترهې اوچوپتیا دغه اوږد سکوت به کله کله دتوپونو درنو درنو ډزو ماتاوه .

په هر زړه کې په دلو دلو خبرې پرتې وې هریوه دیوه داسې ارمان دغوټو په سپړدو لاس پورې کړې ؤ چې تل یی ترې کرکه کوله ، بدیی ترې راتله خو نن هریو په همدې لټه کې ؤ چې ایا کوم زړه سواندې به پیدا کړي چې دمجاهد له ګذار څخه یي وژغوري ؟ خو داوخت کله ددې خبرو دښکاره کیدو ؤ، هلته په مسکو کې دکمونیزم په ماڼو زلزلې ګډې وې هلته دمسکو په سرکونو دلینن مجسمې راښکل کیدې هلته اوس هریوه ددغې ناولې مفکورې څخه کرکه کوله اوهریوه یي دجرړو په ویستو لاس پورې کړې و'.

خو دلته ځینې بې ضمیره اوبې وجدانه خلك تراوسه پورې ددغې ناولې نظریې پورې کلك نښتی وو هریوه پخپل خپل وار سره ددغې ناولې نظریې دپرمختګ لپاره دخپل بې وسه قوم ډیرې میندې ژړولې ، بورې کړې او کونډې کړې وې خو هیڅ هم په لاس ورنه غلل اوس وخت تیر ؤ ډیرو لاسونه مروړل خواوبه له ورخه تیري وي .

داڅومه ورځ وه چې دامر صاحب له پښو څخه ځمکه تښتیدلې وه نه په دفتر کې ناستې ولاړې خوند ورکاوه اونه پخپله ودانۍ کې ! بس دې ؤ اوسرګردانې !

هو ! امرصیب څه کم کوز سړې نه ؤ په داخله وزارت کې دښې لوړې چوکۍ خاوند ؤ ده ددغې مقام دساتنې لپاره خپل خوږ پلار هم لوګې کړې ؤ شپږ کاله وړاندې چې دده پلار دپاکستانې جاسوس اوخاین په نوم ونیول شو دې په همدې وخت کې هم په همدې وزارت کې دلوړې چوکۍ خاوند ؤ ده به په داخله وزارت کې کرۍ ورځ دخپل سپین ږیرې پلار چغې اوریدې اودشپې به یی په خوب کې هم .

خوده به په دغو چغو پورې خندا کوله اوویل به یی چې په خواره خوله ددولت سره سر جنګوي نو همدغه به یې حال وي ورځ راباندې څه تیره شي چې ددغې ظالم دلاسه مې شپه هم ناقراره شي خوب ته مې نه پریږدي زه باید دخوب لپاره دښه ځلیدونکې بوتل نه کار واخلم رښتیا هم دبوتلونو په ځلقا کې به یې سرې غبرګې سترګې کاغې پاتې شوې اوپه اوږده خوب کې به دلوړو لوړو شخصیتونو !! په شاپسې دنفرخذمت په ځیر روان ؤ ده به هر سهار خپلې مترقې میرمنې ته خپل خوبونه په داسې حال کې بیانول چې په شونډو به یې یوه نرۍ موسکا خپره وه : بیګانۍ شپه مې هم دلوړو لوړو شخصیتونو !! په خوا کې تیره کړه ګورو چې نن به دچا چا په لیدو مشرف شم میرمنې به یی هم

دده دور کړې تعبیر سره یو والې ښود اوده ته به یې دنورې ترقۍ زیرې ورکاوه او ورته ویل به یې ترقې به ولې نه کوې ؟ ته خو ددغې انقلاب دکامیابۍ لپاره دخپل پلار مور او مشر وررور څخه هم تیرشوې یې هغوي هم ښه لیونې ؤ یو پرې خان وواژه اوهغه نور به اوس خدایزده چیرې خیرتولوې؟ ستاخبرې یې نه منلې تاته خوبه یې لا کافر وایه اوتاته لاڅه چې زموږ شوروي دوستانو ته به یې هم بدرد ویل .. ددغو خبرو په اوریدو به یو ځل بیا وطن مل دماریه ځیر تاو راتاو شو او ښه ډیره شیبه به وغړمبیدو ! په اخر کې به یې په همدې خبره خوله بنده کړه چې دې انقلاب چیرې هم ماته نده خوړلې دغه مترقې انقلاب به مخ په وړاندې روان وي څه وشو که یو څو خرسرې یې مخې ته راولاړ شو انقلابي ژرنده به یی اوړه اوړه کړې او ... خو نن دویمه ورځ وه چې دامر صاحب وطن مل څه پته نه وه لګیدلې په خونه یی دباد مړې مړې ځپې الوتې راالوتې میرمن یی سمدستی ددویم ملګرې په لټون کې لالهانده وه ځکه هغه غریبه پدې ښه پوهیده چې دلته ورك بیانه دې پیداشوې زه باید په وخت دسرسیورې پیداکړم اورښتیا

په ۵ مخ کې

ادبي اصطلاحات

سید محي الدین هاشمي

ادبی تذکره :

له هغه ادبی اثر څخه عبارت دی چې پکی دویناوالو اولیکوالو ژوند پیښې اوکلام نمونې راغلی وی.

په پښتو ادب کې تذکره لیکنه اوږده سابقه لری ، په دغه لړ کې موږ لومړنی ادبی تذکره دسلمان ماکو (٦١٢) هـ ش تذکرة اولیا اوورپسی دمحمد هوتك پټه خزانه (١١٤١- ١١٤٢ هـ) ،پښتانه شعرا (١-٢-٣-٤-٥) [ټوکونه] او سنی لیکوال (١-٢-٣) [ټوکونه] او... یادولای شو .

ادبی انجمن

دانجمن لغوی معنی مجلس اوغونډه ده ، دادبی انجمن اصطلاح پر هغه ځای اطلاق کیږی چې پکی یوه ډله لیکوال اوویناوال په ادبی فعالیتونو بوخت وی ، دادبی انجمن اصطلاح دادبی ټولنی یا ټولی سره یو مفهوم لری .

بدیع :

لغوی معنی یی نوی ، تازه اونوی رامنځ ته شوی شی دی اوپه ادبی اصطلاح بدیع هغه علم دی چې دهغه په واسطه دکلام اووینا دښه والی اوښکلا وجه څرګندیږی .

دبدیع علم لومړنی واضع عبدالله بن معتز دی اوبیا وروسته زیاتو ادبپوهانو ددی علم په څیړنه اوسپړنه کار کړیدی .

بدیع په دوه ډوله :

الف : لفظی صنایع

ب : معنوی صنایع

په لفظی صنایعو کې دلفظ اوپه معنوی کې دمعنا رعایت کیږی .

په ۵ مخ کې

غزل

شفیقي

نه پوهیږو مونږه نازولي که رتلي يو
وخت دناکردو په زنځیرونو کې تړلي يو
دم په دم تکرې حادثې دي او تندي زموږ
وخت په وخت په اور دامتحان کې سوځیدلي يو
کله دنړۍ په ولسونو کی معدوم غونډې
کله لکه لمر په ټول جهان کې ځلیدلي يو
شوروي هنګامې وې هیبتونه ، ستمونه وي
هیڅ نه وې ټول ورك شي کله موږ چې خوځیدلي يو
نور مو دکمال په مخکې لوې لوې ګړنګونه دي
هسې لکه خدای (ج) چې مستکبرو ته ساتلي يو
یو دتورې خرپ دی یوه جذبه ده ایماني پاته
نور دتمدن له قافلې نه ډیر لویدلي يو
نه مو دوروری پر تړون پل دوفا ایښی دی
نه چا دوحدت پر دسترخوان راټول لیدلی یو
څوك چې کبر جن شي خدای (ج) یی موږ ته رالغاړی کړی
نور موخونده نشته بس په توره کی غښتلي يو
بس زموږ له منځه که شوه ورکه دنفاق بودۍ
پوه یمه سرلارې دقیام امت منلي يو

ویښې جذبې روغ توپانونه

دکتاب معرفي

دکتاب نوم : ویښې جذبی ، روغ توپانونه
ټولوونکی : عوض الدین صدیقی
خپرونکی : پخپله راټولوونکی
دچاپ نیټه : ١٣٧٠- وری
دچاپ شمیر : ٥٠٠ ټوکه
دمخونو شمیر : ١١١

ویښې جذبی او روغ توپانونه دهغه اثر نوم دی چې په دی وروستیو وختونو کې چاپ اوخپور شوی دی .

په دغه ارزښتناك اثر کې تقریباً زر جهادي لنډۍ دځوان لیکوال ښاغلی عوض الدین صدیقی په زیار او هڅه راټولې شوی دي .

دکتاب متن تر کتاب پیژندنی اواهداء وروسته په پنځم مخ کې ددی اثر دلیکوال په سریزه چې پکی په عامه توګه داولسی ادب اوپه خاصه توګه داولسی ادب ارزښتناك صنف «لنډیو» اوددی اثر دراټولونی اوخپرونی په موضوع په زړه پوری معلومات وړاندی شوی ، پیل کیږی ، اوپه ١٥ مخ کې دسریزی ترپای وروسته له ١٦ مخ څخه تر ١٠٧ مخ پوری دالفبا په ترتیب لنډۍ راغلی دی اودکتاب دپای په څلورو مخونو کې د «نوم» [ښود] ترسرلیك لاندی لیکوال په لنډیو کې دراغلیو اشخاصو اوځایونونومونو په باب لوستونکو ته په زړه پوری توضیحات اومعلومات ورکوی .

پښتون اولس بډای اولسی ادبیات لری چې زیاته برخه یی دخلکو په ذهنونو اوسینو کی پرته ده او خوله په خوله له یونسل څخه بل نسل ته لیږدی اوډیره کمه برخه یی دیو شمیر بااحساسو اودردمنو لیکوالو په زیار او هڅه دلیکلو اثاروپه بڼه راټوله اوخپره شوی اودغسی له ورکیدنی اوهیریدنی ژغورل شوی ده. دپښتو په اولسی شاعرۍ کې لنډۍ ځانله جلا صنف دی اودکمیت اوکیفیت له مخی دومره غنی دی چی که دټولی اولسی شاعری په پرتله یی اندازه زیاته نه وی نو کمه خوتری نه ده .

په لنډیو کې دپښتنو دژوند ژوره عکاسی شوی اودپښتنی معاشری داسی اړخ نشته چې په لنډیو کې نه وی انځور شوی ځکه یی ددغه اولس دټولنیز ژوند هنداره بولی.ترکومه چې خبره په جهادی لنډیو پوری اړه لری دغه لنډۍ که له یوی خوا زموږ دمجاهد ملت

دویاړلی مقاومت اودمجاهدینو دویاړمنو کارنامو اوقهرمانیو یادونه اوزرین بابونه خوندی کوی نوله بلی خوادملحد اومکار دښمن دشرمیدلی ماتی او زبون حالت پیښی لههیریدنی نه ژغوری .

دشهیدانو په ماتم سوی ناری اودیتیمانو ، کونډو ، بورو ، ورارو ، ددرد اوفریاد انګازی پخپله لمنه کې رانغاړی اودنورو غوږونو ته یی رسوی او ...

په زرګونو جهادی لنډۍ دهجرت په چاپیریال ، دجهاد په سنګرونو ، دښمن له تسلط څخه دازادو سیمو او... داستوګنو ترمنځ خوله په خوله ګرځی اوډیرې کمی یی

په ۵ مخ کې

ادبی اصطلاحات ...

په لفظی صنایعو کې : تدبیح - حسن تعلیل - حسن مطلع - حسن مقطع - مراعت النظیر - تضاد - لف ونشر - تجاهل عارف - سوال اوځواب - ارسال مثل - مبالغه - براعة الطلب - رجوع - اعداد ، رشت اوزیبا او ... صنعتونه

اومعنوی صنایعو کې : کیسی نغر یااڅرونه،معما ، سرقه یا توارد - اقتباس - تشریع - توشیح - ذولقا فتین - تلمیح - تضمین - رد العجز - ملمع تکرار حسن ، مربع ، یجنس او ...صنعتونه شامل دی .

مولوی جمیل الرحمن په شهادت ورسید

« اناالله وانا الیه راجعون »

باجوړ ، دسنبلی ۹ نیټه : دیوه خپور شوی خبرله مخی دافغانستان ددعوت الی القران وسنت ولی امیرمولوی جمیل الرحمن دسنبلی په ۸ مه نیټه دجمعې په ورځ په داسې حال کې چې دجمعې دلمانځه لپاره یې تیاری نیولی وه دیوه تن مصری خبروایی چې دپیښی په ځای کې خلور تنه نورعربان چې دقاتل دملگرو گومان پری شوی نیول شوی دی . دیو بل خبر له مخی مولوی جمیل الرحمن دسنبلی په ۹ نیټه دسهار په اتو بجو په داسې حال کې چې په زرگونو خلکو یې په جنازه کې گډون

عبدالله رومي دمولوي جميل الرحمن قاتل ترمريني وروسته

«عبدالله رومی » نومی تروریست لخوا په بی رحمانه توگه په شهادت ورسید.خبر زیاتوی څه وخت چې دمولوی جمیل الرحمن محافظینو دنوموړی قاتل درانیولو کوښښ وکړ نو هغه خپل ځان پخپله ټنگنچه وواژه . ویل شوی دی چې دغه قاتل «عبدالله رومی» دالجهاد په عربی مجله کې دخبریالی دنده په غاړه درلوده اومولوی جمیل الرحمن له اعتمادی کسانو څخه ؤ . درلود دباجوړ په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو . مولوی جمیل الرحمن دافغانستان دجهاد له لومړنیو مبارزینو څخه ؤ نوموړی په بیلابیلو وختونو کې دحزب اسلامی په اجرائیه شوری اودافغانستان دمجاهدینو داسلامی اتحاد کې جهادی دندی سرته رسولی وی داتحاد تر ړنگیدو وروسته یې ددعوت الی القران والسنت په نوم تنظیم جوړ کړ اوڅه موده دمخه یې

جهاد دالله (ج) ... زما محترمو ورونو !

منافق دی خوپه یوه اوبله بهنه یې ځان دجهاد په لیکو کې ودرولی اوتراوسه یې منافقت ندی ظاهرشوی دهغوی دوه مخی او منافقت ښکاره شی . وخت لږ دی زموږ دغه شهید وروږ ډیر تکړه مجاهد ؤ ده اوددوی قوم اوخپلوانو له موږسره په هغوتولو سختو جگړو کې چې دستو کندو تاریخي جگړه یې مثال راوړو ډیره زیاته برخه اخیستی ده الله تعالی دی دوی ته اجراوتوفیق وربه برخه کړی ددغه قهرمان شهید شهادت دی قبول وگرځوی اوخپلوانو اوبازماندگانو ته یې اجر جزیل او نیک عوضونه ورکړی .

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

دکنړ په آزاد ولایت کې اسلامی آمارت هم اعلان کړ

خبر زیاتوی چې دمولوی صاحب دشهادت څخه وروسته د دعوت الی القران وسنت د مشر په توگه مولوی سمیع الله چې دمخه دنوموړی تنظیم دمالئ سرپرست ؤ،وټاکل شو .

ويښي جذبي روغ ...

چی ښایی د«مشت نمونه خروار» حیثیت ولری دځینو لیکوالو په زیار اوهڅه دجهادی مطبوعاتو له لاری خپری شوی اودهیریدنی او ورکیدنی نه یې دژغورنی چانس ترلاسه کړی دی . دجهادی لنډیو راتولول هم ډیر ستونزورکار دی ، په کلیواوبانډو ، جهادی سنگرونو اود هجرت په چاپیریال کې په کمپونو گرځیدل غواړی ، اوځان ستړي کول . صدیقی صاحب اوس دغه ستونزور کار په لومړیو پړاوونو قدم اینښی او دزیار اوزحمت لومړنی گټوره نتیجه یې دادتقریباً زرو لنډیو مجموعه ده چې ځینی یې له جهادی خپرونو څخه راټولی کړی اوپو شمیر نور یې له مجاهدینواو مهاجرینو څخه لیکلی اوپخپل مالی لگښت یې چاپ کړیدی .

زه پداسې حال کې چې دغه اثرد جهادی ادب په پانگه کې یوه گټوره اضافه بولم راتلونکی ته ددې ارزښتناک اثر دچاپ اوخپراوی مبارکی وایم اودلوی خدای په دربار کې ورته دلازیاتو بریالیتوبونو په دعا خپلی خبری پای ته رسوم .

دشهید ککوخان ...

دحق دلاری دنومیالو مجاهدینو په ډله کې چې ویاړلی جهادی کارنامې به یې زموږ داسلامی انقلاب دتاریخ زرین باڼونه او نه هیریدونکی یادونه وی یوهم ککو خان دحاکم خان زوی ؤ چې په ۱۳٤۸ هـ ش کال یې دلوگر ولایت دازری دولسوالی دیبرو په خوشحال خیلو کې سترگې نړی ته پرانیستې وی په قوم احمدزی ترقوماندی لاندی دحضرت عمر فاروق (رض) دغند دنومیالیو مجاهدینو په ډله کې شامل ؤ اوپه میړانه او زړورتیا سره یې جهادی فعالیتونه سرته رسول ، دخوست دستری فتحی په ټولو عملیاتو کې یې له پیل نه تر پای پوری برخه درلوده، فعلاً دنورو مجاهدینو سره یو ځای دپکتیا ولایت مرکز گردیز ته نژدی دزرمت په سیمه کې په جهادی فعالیتونه بوخت ؤ چې په ۱۳٥۸ هـ ش کال یې دکفر او الحاد په وړاندې په وسله وال جهاد پیل کړی ؤ اودخپلی سیمې په زیاترو جهادی عملیاتو کې یې له نورو مجاهدینو سره یو ځای برخه اخیستې وه . نوموړی له ۱۳٦۵ هـ ش کال راهیسی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت اودالحاج محمد ابراهیم دجمعی په مبارکه ورځ د ۱۳۷۰ هـ ش کال دسنبلی دمیاشتی په لومړی نیټه ددښمن دتوپ گولی دلگیدو له امله دنورودری تنو مجاهدینو سره یو ځای دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

اناالله وانا الیه راجعون

پرده پوښ ...

هم په دریمه ورځ دوطن مل موږ په مهمانخانه کې دکوټې دواگو پوري ځوړند وموندل شو ، ښایسته پیره رسی یې پخپله مرۍ ته اچولې وه میزله یې لغته ورکړي وه سترگې یې بټې بټې راوتلي وې څڅې یې چیچې خواته کوږ پروت ؤ دوینو نړۍ لیکه یې له وښکې نه راوتلي وه خدایزده څومره تالی به یې خوړلي وي کوټه یوبونو په سر اخیستي وه دورننوتو شان نه‌ؤنه یې دڅرا ځوک درلودل اونه دانگو لا! چاڼي یې په مړي یوه اوښکه قدرته هم تویه نکړه ، په پرینبی اووده لیک کې یې خپل ځان ناپوهه معرفي کړي ؤ لیکلي یې ؤ زه پخپل ژوند تنگ یم زه خپل ځان دخپله لاسه وژنم ، زه په دونیا کې نوري سترگې نشم لگولی ، زما ژوند توله خطاوه او زه خطاشوم زه دخپل پلار قاتل یم مادخپلې خوري موربه بې وسې پوري ډیري خنداگانې کړي ، زه ملامت یم اوزه خجالت یم ... زما دپاره همدادشرم مرگ پرده پوښ دې :زه خپلې مرۍ ته پخپل لاس دادي پري وراچوم څکه هلته زموږ شوروي دوستان هم ځانونه له ډیره شرمه پخپله وژنې اوزه دې لا ژوندي گرځم ؟ موږ ټول باید ځانونه پخپله ووژنو موږ باید له هیڅا سره هم مخ ونکړو ، موږ بدبخته ددې قوم قاتلان یو ، که زما گونډي ملگري زما خوله خوله گنې نو زما په پل دې پل کیږدي څکه زموږ لپاره همدامرگ پرده پوښ دي او ...

خوسبا ته ورځپانو لیکلي ؤ چې ښاغلی وطن مل دانقلاب ضد او وطن دښمنه عناصرو لخوا په بې رحمانه توگه ترور شو دولت به له داسې ورانکارو سره له سخت چالم چلند نه کار واخلي او ډیر ژر به یې وتکوي !!!

دجهاد حیثیت ...

یی اودتحقق لپاره یی داساسی علت حیثیت لری دخدای (ج) پیژندنی پیغمبر(ص) پیژندنی ، اسلام پیژندنی ، دقران اوشریعت دحاکمونه،دانسانی نسل درسا اصلاح کونی خوشحالی ،ازادی خپلواکی ، سوکالی ، دنه خلاصیدونکی زیرمی حیثیت لری جهاددی چې په نړیوالو جوامعو ، پرکتوک اقتصادی ، کلتوری ... اواجتماعی چارو کې حقیقی انقلابونه رامنځ ته کوی .

ځینی بې دینه نامسلمان خلک دجهاد باارزښته مقدسه کلمه دخپلو ځانونو لپاره دصفت په بول استعمالوی خو واقعیت نلری اوپوصفت دی چې موصوف یې په ځان کې دمصداق قابلیت نلری .

مجاهد یوازې هغه څوک کیدای شی چې حقیقی مومن اومسلمان وی . نوجهاد دهغه ټولنجوړ اوبوران جوړعمل څخه عبارت دی چې په اجتماعی ټولو ساحو کې ترینه دهراړخیزی رغونی په حیث کار اخیستل کیږی دباوجدانه ، باایمانه اومومنو انسانانو دنده ده.

چي ومي ليدل...

پری وشوی او الوتکی وتښتیدی ، رئیس ارکان دترصد نقطی وکتلی نوی تعینات یې وکړل

دلاري او ترصد محاذ ته دتگ په وخت مجاهد وروږمحمد فاروق چې یوه پښه یې په ۱۳٥۸ کال داسد په میاشت کې‌غڅه شوی ده،پیژندگلوی وشوه . نوموړي په پوره استقامت او قوي عزم داسلام او وطن دازادی په لاره کې دژوند تروروستې‌سلگۍ ، دقسم خوراوماتی خوړونکي دښمن په مقابل کې په نره‌دجنگیدلو اومان لریدنډشپې نهه بجی

هفتاد سال حیات ننگین وسیاه وپایان شرمناك كمونیزم روس

كه اسباب شكست وسقوط كمونیزم را درجهان ودر زادگاهش فراهم اورد .

درپرتو شكست ماشین بزرگ كمونیزم در اروپای شرقی ودرسایر بخشهای جهان مردمان كشورهای مختلف سرنوشت خویشرا خود بساختند ولی اكنون كه نظام كمونستی روس بحیث حامی رژیم دست نشانده كابل ومحرك اصلی جنگ افغانستان از پادرامده زمینه این پرسش بمیان می اید كه ما باید چه كنیم ؟

ولی باید پرسید كه حكم زمان بر ما چیست وچه باید باشد وان اینست كه بادرك ایجابات شرایط نازك وحساس كنونی رهبری جهاد ی ایجاد وحدت بی سابقه ، وفعال ساختن دیپلوماسی اصولی ضربات قاطع وخورد كننده رابر دشمن وارد سازد اگر چنان وحدت وعمل صورت نمی گیرد بسیار ممكن است این فرصت نادر از كف برود .

رژیم كابل نیز گرچه باسراسیمگی ازادامه كمك روس سخن میزند اما واقعیت اینست كه سخت در مضیقه قرار گرفته است چنانچه یكی از مقامات رژیم نیز اذعان داشته بودند كه تاحال دریكی بر سه بخش از كمك های روس كاهش بعمل امده است این خود منبع بزرگ تشویش رژیم در حالی است كه زمستان گام به گام نزدیك شده میرود لذا نیروهای جهادی نباید این فرصت طلایی رابدون استفاده اعظمی ازدست دهند واین شاید مناسبترین زمان خواهد بود برای بر چیدن بساط رژیم دست نشانده مسكو در كابل .

د«ژوره » په لور وخوځیدو دشپې نهه بجي او څودقیقې وې چې دعمري غنډ په نظام قراول ورننوتلو . «پای»

شانزده قرارگاه ته ورسیدواو الحاج محمد ابراهیم عمري سره ترلیدنی کتنی او دهغه ترلازمو هدایاتو وروسته

۲۱مه برخه

په افغانستان کې دکې، جي، بي ورانوونکي فعاليتونه

داکسا، کام، خاد، واد - تشکيلات، فعاليتونه او جنايات

عبدالوکيل

ددغو نوولسو کالو څخه په زيات جهاد‌ی پړاونو کې په سلګونو زره دهغو ورك نومو شهيدانو په کارنامواوباتوريو چې ارادو اوايماني جذبو يې غږونه اودرې په لړزان راوستلې، دتاريخ پاڼی نه دي ښکلي کړای شوي‌اوکه چيرې مورهم بې له دې چې دوی اسلاميت، شهامت سربښندنې، ايمان اوقوت ته داحترام اوتسليمی سرونه ټيټ نکړو نو هلته به مورښتيا ته دروغ حقيقت ته باطل اوحق ته ناحق ويلی وي. خودلته به دبيلګې په توګه دهغه اسلامي پاڅون يوې برخې ته اشاره وکړو کوم چې دروسي کمونستي استعمارچيانو په وجود کې يې لړزازياته اوهغوی ته يې داسلام اوايمان زور په عملي ډول وښود.

کله چې په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه دروس وحشي عسکرو زمونږ پر اسلامي وطن پوځی تيری وکړنو هغه جهاد کوم چې دروسي مزدورانو (خلقيانو او پرچميانو) پرضد توپاني شوی ؤلا نور هم توپاني شو. افغاني مجاهدينو داسلامي کلك ايمان پواسطه سره په تشو لاسو نو دروسي ټانکونو مقابله پيل کړه اويومحل بيا دجهاد ورانګې دغرونو او رغونو څخه دښارونو او بازارونو په لور وخوځيدې.

په ۱۳۵۸ هـ ش کال دحوت په دريمه نيټه دکابل په ښار کی کفر او استعمار راپرځوونکی اسلامي پاڅون وشو داقيام داسې پيل شو: دروسانو دنظامي قواؤ له پوځی تيري سره سم دکابل ښار له زياترو کوررونو څخه ديوې شپې په نسبت بلې ته دالله اکبر ناري مخ په زياتيدو شوې خود حوت دريمې نيټې څخه څو ورځې مخکې دغو اسلامي نعرو او زور کابل ښارته نوي ښنه ورکړه. دورځې لخوا به اکثريت دوکانونه له روسانو سره دمخالفت په منظور تړل شوې وواو دشپې له خوا دالله اکبر او دروسانو او دهغو ی مزدورانو پر ضد شعارونو به ټوله شپه بدرګه کوله. دنوموړي کال (۱۳۵۸) دجدی مياشتې په دوهمه نيټه دکابل ښارټول دوکانونه دروسي استعمار چيانو او دهغوی مزدورانو (خلقيانو او پرچميانو) سره دمخالفت په وجه وتړل شول او ښه څرګنده ښکاريده چې داچوپې جادی او کوڅی به په کم وخت کی دکفر او استعمار ضد اسلامي موجونه شي. دهمدې ورځې په ماښام دکابل ښار دهر بام هر کور (هغوی چې دروسانو مزدوران ؤ دمجاهدينو له ويرې يې د الله اکبر په نارو‌پيل وکړ) او هرې کوڅی څخه دالله اکبر نارې پورته شوې. دا هغه شپه وه چې وړو وړو يتيمانو هم جهاد ته ملاتړلې وه،کوچنيو ماشومانو دغزاء په نيت دالله اکبر نارې پيل کړې وې او داسې څرګنديده چې بې ساا‌و غيرژوندي اجسام هم دالله اکبر نارې وهي داټوله شپه دروسانو او دهغوي دغلامانو لپاره دهيبت او ويرې شپه وه او دمسلمانانو لپاره ديوه اسلامي جشن او لويې غزا دانتظار شپه.

دحوت په دريمه ورځ دسهار تراتو بجو پورې دکابل ښارټولې جادې او کوڅې په غازيانو دکې شوې دالله اکبر نارو او اسلامی شعارونو غږ او زور ټول ښارولړزاوه.او د (۹) بجو په شاوخوا کې دکابل ښار په ټولو ناحيو کې دجهاد ورانګې پورته شوې. داهغه دحق او باطل جګړه وه او هغه صحنې وې چې يوازي عيني ليدل يې په واقعي ډول څرګند ولی شي او دهغوی لوړتيا، دغازيانو شهادت او عظمت دقلم په ژبه نشي څرګنديدلی.

په دغه جهادي توپان کې ډير کم شمير مجاهدينو توفنګچې درلودې او نور ټول سپين ږيري او ځوانان تش لاسونه خو دايمان او عقيدې زور ورې وسلې يې درلودلې. ددغه اسلامي پاڅون مجاهدينو دښار اکثريت ګوندي ناحيې (دخلق او پرچم ګوندي دفترونه) دپوليسو

داهغه شپه وه چې وړو وړو يتيمانو هم جهاد ته ملاتړلي وه کوچنيو ماشومانو هم دغزاپه نيت دالله اکبر نارې پيل کړي وې

(ځارندوی) حوزې او د اردو يو شمير هغه قطعې فتح کړلې کومو چې دکابل ښار په داخل کې موقعيت درلود. مجاهدينو دخلق او پرچم دغه وسله والې قطعې او حوزې دافسانوي قهرمانانو په ښه تسخير کړلې هغه په دې ډول چې مجاهدين به سيلاب په څير دمزدور رژيم پر دفتر ونو‌حوزو او نظامي قطعاتو باندې ورورختل او کله به چې دمجاهدينو اسلامي لښکر دغو حوزو او ناحيو ته ورنږدې شول نو دروس مزدورانو به کلاشنکوفونه دمجاهدينو په طرف ضربه کړل او ټولو مجاهدينو به پرې ورمندې کړلې. هغوی چه شهيدان کيدل پرځمکه به لويدل او نوربه ترهغو پورې په مخ ورتلل تر څو چې به يې په خالي او تشو لاسونو روسي مزدوران (خلقيان او پرچميان) ددوی دوسلو سره يوځای ژوندي ونيول په دې ترتيب سره دکابل ښار کوڅو او جادو،کوررونو‌اوسرکونو هم دافغانستان دکليو اوبانډو په څير دشهيدانو په وينو سرې اورنګينې جامې واغوستې اوښار دمجاهدينو په لاس فتحه شو دجهاد دغه حالت ترغرمې وروسته هم دوام وکړ او مجاهدينو دکابل مزدور رژيم اوروسانو په هغو نظامي قطعاتو اوجزوتامونو باندې کومې چې دکابل ښار ته څيرمه منطقو کې پرتې وې يرغل پيل کړپه دې وخت کې روسانو ددوی ټولو هغو زغروالو قطعاتو اوجزوتامونوته کومې چې کابل ښار ته نږدې پرتې وې امر وکړ چې دکابل ښار دمرکز په طرف حرکت وکړي اوهرڅوك يې چې مخې ته ورځي له منځه يې يوسي نودروسانو عمده او اساسي زغروالو قواؤ ددارالامان اوخيرخانې له خواو څخه د ښارمرکزي لورې ته دمجاهدينو پرضد حرکت او جنګ شروع کړ، څرنګه چې دمجاهدينو سره دټانك ضد وسله نه وه موجوده نو دهغوی سره يې په هغو وسلو چې دخلقيانو اوپرچميانو څخه په غنيمت نيولي وې مقابله پيل کړه اوديوې شديدې اوخونړۍ جګړې څخه وروسته روسانو وکولی شول چې دکابل ښار يوازې مرکزي څلور لارې اوجادې په خپل کنترول کې ونيسي اودښارارونده اطرافي منطقې مجاهدينو په لاس کې پاتې شوې.دجدې په څلورمه شپه دکوررونو څخه دالله اکبر نارو ويلو ادامه درلوده اوهم دمجاهدينو له طرفه دښار په ټولو برخو کې پر روسانو باندې وسله والو بريدونو دوام پيداکړ اوپه کابل ښارپورې مربوطې اطرافي ناحيې په مياشتو اوکالونو دمجاهدينو تر نفوذ اواثر لاندې پاتې شوې اما بيا وروسته دشرايطو په نظر کې نيولو سره مجاهدينو دجهاد تاکتيك ته تغير ورکړاوپه غرونو اووراغونو ښارونو اوبازارونو کې دروسانو اوددوی لاس په نامه غلامانو پرضد جهادي بهير اوپاڅون لانور هم پياوري شو.

چي ومي ليدل نوومي ليکل

وروستۍ برخه :

راپورتر : محمد سرور قاطع

ورځ تيره شوه دشپې تياره دځمکې پرمخ خپره شوه دجهادي سنګر داتل اونوميالي مجاهد دژور غونډ قوماندان الحاج محمد ابراهيم عمري سره مخامخ شوو ترښه روغبړ وروسته مو په يوه ځای ډوډۍ وخوړه او تر لازمي لارښوونې وروسته هرڅوك دخپل استراحت ځای ته ولاړل.

شپه تيره شوه اوتر لمانځه وروسته لا لمر خپلې زرينې ورانګې دغرونو په څوکو نه وې خپرې کړې چې ناڅاپه يوهيبت ناکه غرمبهار دهستوګنې اوقرارګاه چاپيريال وښوراوه مجاهدينو دپخوا په شان په خپلو ځايونو کې ثابت او محکم معلوميدل په سترګو مې وليدل چې درژيم بم غورځوونکو الوتکو دشانزده مرکز په ساحو درې دقيقې ګرنيتی بمونه واچول، مجاهدينو ته کوم ځاني تاوان ونه رسيد لاکن دويجاړو شوو ودانيو په لاورانولو دګڼو شنو باغونو اوونو په سوزولو کې اغيزه ترسترګو شوه دفکراوخيال مرغه مې دتيرې ديارلس کلنې ماضي په لوړو غرونو پرواز وکړاودسترګو په رپ کې مې دروسانو اودهغوی دمزدورانو له خوا رامنځته شوې نه هيريدونکي تراژيدې يوه يوه مخې ته ودريدې.

دسوچ اوخيال لړۍ مې هغه وخت وشليدله کله چې دژور غونډ رئيس ارکان محترم ډګروال سيد نعيم شاه راباندې ددرنګ په لوري دتلوغږ وکړ.

داسد ۱۱ مه نيټه دسهار نهه بجې وې ددرنګ په لوري کوم چې دلوګر دخروار په سيمه کې واقع دګرديز اوزرمت سره دلوړې سطحې دکوچنې غره په واسطه اتصال پيداکوي، وخوځيدو دشل دقيقو تر منزل وروسته دزرمت مرکز تعمير ته چې دپخواو ډېرينو ودانيو لړونکي دي وررسيدو.

دسپرلی موټر په ګړنديتوب سره دکلال ګو څخه تير شو دپاينده خان اودولت خان دکليو په څنګ کی کوم چې غزنې دپکتيا دزرمت له سيمې څخه بيلوي اوبيا دخروار په استقامت ستانه شوو.

يو ځل بيا دلوړو سطحو اوغونډيو نه تر تيريدو وروسته پداسې حال کې چې درژيم ناڅاپي هوايي بريدونو دلارې خطر ورزيات کړی ؤ، دخروار ناحيې ته ښکته او دماسپښين په درې بجو د درنګ ناؤ ته ورداخل شوو، ومې ليدل چه په کوچنۍ هموارہ سطحه دمجاهدينو خيمې ودرول شوې وې خو دعمري «ژوره» غونډ دايراسيون ټولې قوماندان الحاج محمد کمال خان له خپلو مجاهدينو سره ددښمن دهر ډول حملې په وړاندې او په دښمن باندې دخپلو تعرضي عملياتو لپاره کامل چمتوالی در لود دمجاهدينو روحيه لوړه وه. بياخبر شوو چې همدغو مجاهدينو دوه ورځې وروسته ددښمن يوه جنګي هليکوپتره‌دستهنګر په ميزائيلو ځمکې ته راوغورځوله دغنډ محترم رئيس ارکان سيدنعيم شاه اتلو مجاهدينو ته لازمي لارښوونې وکړې او دجنګي تکتيك په رڼاکې يې دعملياتو لپاره دترصد او تعرض نقطې ورپه ګوته کړې.

شپه تيره شوه، ددرنګ له مرکز څخه دشانزده قرارګاه په لورې راغبرګ شوو، مازديګر لمونځ مو دشانزده په قرارګاه کې اداکړ. دماښام خړه خوره شوه دکنی په لور، ددرويش مرکز ته وخوځيدودرحمان خيلو کلي ته ورسيدو هغه کلي ته چې په همدغه ورځ دسهار په يوولسو بجو درې ځله ددښمن دهوايي بريد لاندې راغلي ؤ چې دوه ودانۍ تخريب او دشنو ونو ډړونه او ځانګې په لاره کې پرش او سوزيدلې په نظر راتلې، دوه تنه مجاهدين عادي ټپيان شوي وو دماښام لمونځ مو د درويش په مرکز کې اداکړ دشپې په تاريکۍ کې دکنی په لور روان شو و، داچې په‌ګرديز کې‌دمردوڅرخي‌پوستنه دسروری په نامه لارې ته نږدې پرته ده، موټر په مړو څراغونو له کنډوکپرونه تيريده دشپې يولس بجې کنی بيخ قرارګاه ته ورسيدو، شپه سباشوه او سهار دترصد نقطې په لور ي وخوځيدو په برېنډه او لوڅه لياره چې هره لحظه يرې دبمبارد ويره موجوده وه تر دونيم ساعته منزل وروسته، دغره څوکي ترصد نقطي ته ورسيدو، دمورچل مجاهدينو په سړه سينه او لوړې حوصلې مونږ سره روغبړ وکړ، په هغو ستونزو وروشرايطو کې دمجاهدينو اوچت مورال او کلکې ارادې ته حيران شوم دکنی محاذ دترصد په نقطه کې دسهار داوه بجو څخه تر يوولسو بجوپورې، وليدل شوو چې دملحد رژيم دګرديز څخه په متواتراوکله ناکله په وقفهٔ ډول سره ددرنو او ډول ډول وسلو ډزې جاري وې خو دحق دلارې اتل مجاهدين بې له دې چه کومه لازمه دفاعي اسلحه ولري د ايمان په جذبه او ټهينګه اراده پخپلو مورچلونو کې ثابت او محکم ليدل کيدل او حتی بې پرواښکاره ګرځيدل په همدغه ورځ هم ددښمن الوتکو پرې څلور واره بريد وکړ چې دمجاهدينو لخوا دشلکا ډزې

په ۵ مخ کي

زموږ پاڅون کومه قومي ، قبیلوي اوسیاسي شخړه نه ده ، بلکه دادخدای (ج) درضا اواعلای کلمة الله په لار کي شرعي جهاد دی

درنو لوستونکو :
په تیره ګڼه کي به موداالاتحاد جریدي اداري له خوا په جوړه شوي غونډه کي دالحاج حقاني دوينا متن لوستي وي ، دادي دخپلي ژمني سره سم په نوموړي غونډه کي دحقاني صاحب تر وينا وروسته دطرحه شويو پوښتنو اوځوابونو برخه درته وړاندي کوو:
«اداره»

دالاتحاد جریدی اداری جوړکړی مرکه کی

دحقانی صاحب له وینا نه وروسته دغونډی برخه والو یو لړ پوښتنی طرحه کړی اوحقانی صاحب یی ځوابونه وویل چی دلته یی متن رااخلو:

یو ورور پوښتنه وکړه ولی افغان مجاهدین دنجیب سره خبری کول ردوی ؟ اونه غواړی چی دافغانستان مسله په سیاسی خبرو حل شی آیا تاسو ددی کار په اقتصادی اواجتماعی اړخونو ، ګټواوهمدارنګه دجنګ دزیانونو په باب فکرکړی دی؟

حقانی صاحب په ځواب کی وویل : دغه دسیاسی حل طرحه په حقیقت کی دوسیع البنیاده حکومت تشکیلول دی چی په هغه کی به کمونستان هم برخه ولری او مجاهدین هم اوموږ جهاد ددی دپاره شروع کړی چی په افغانستان کی داسلام بیرغ اوچت کړواودکمونیزم جرړی دافغانستان نه وباسو .

زمور جنګ «جهاد» قومی اوقبیلوی جنګ نه دی بلکه دادخدای په لاره کی جهاد دی که چیری زموږ جنګ «جهاد» غیر شرعی وای نو په هغه صورت کی زموږد پاره دسیاسی حل قبلول اودجنګ بندول پر ځای کار ؤ ترڅو ددومره زیانونو مخه نیول شوی وای .

ولی زموږ جنګ «جهاد» دخدای (ج) په لاره کی دی اودهغه دحکم مطابق دی اوهر زیان چی په دی لار کی ووینو هغه موږ تاوان نه ګنو او داچی موږ دخدای (ج) دحکم مطابق عمل کوو خدای (ج) موږ ته دنیوی اواخروی اجرونه راکوی مطلب داچی موږ ته به په دنیا کی عزت اوپه اخرت کی جنت راکړی دازموږ عقیده ده .

حقانی صاحب زیاته کړه موږ دملل متحد دمؤسسی نه غوښتنه کوو چی داومنی چی نجیب دجنګ مجرم او دتاوان ورکولو مسؤل اودجنګ سبب دی کومکونه او مرستی باید پری بندی شی اودقدرت نه دی لری شی نو په هغه وخت کی به جنګ بند شی موږ جنګ غوښتونکی نه یو او اوس دی کار ته مجبور شوی یوو.

دخوست په جنګ کی زموږ په لاس کی ددښمن دری زره عسکر او ۳۲۰ صاحب منصبان اوپنځلس زره ملیشه اسیران شول چی موږ دوی ته هیڅ ضرر ونه رساوه اودهغوی سره مو داسی چار چلن وکړ لکه چی څوك یی دمیلمنو سره کوی .

که چیری نجیب اودهغه ډله توبه وباسی اواسلام ته رجوع وکړی اوپه خپل تیرواعمالو باندی پښیمانی څرګنده کړی نو موږ به یی ونه وژنو.

اوموږ هغه پریږدو چی په افغانستان کی ژوند وکړی خو موږ به هغه څارو چی دروس یا نور اسلام دښمنه ملکونو سره خپل تعلقات قایم نکړی .

نو که چیری دی زموږ داخبری ومنی دی به وکولای شی چی په عزت ژوند وکړی .

> دروسي قواو دوتلو نه وروسته غرب خپل هدف ته ورسید ، هغه څه يي چي غوښتل ترلاسه يي كړل اوداسي مرحلي ته ورسيدل چي نور دمجاهدينو دخبرونو نشرولو ته محتاج ندي

الحاج حقانی زیاته کړه : دکابل درژیم ددفاع وزیر مرستیال ډګر جنرال ظاهر سوله مل دخوست په جنګ کی زموږ په لاس اسیر شو همداراز او نور جنرالان اسیران شول ، موږ ددوی یوه ته هم شکنجه اوکړاوندی وررسولی ځکه دوی خپله پښیمانی څرګنده کړه او توبه یی وویستله اودازموږ دپاره کافی ده موږ یوازی تریوه وخته پوری ترڅارنی لاندی نیولی چی کله موږ مطمئن شو چی دوی به بیاد کابل دکمونستی رژیم سره نه یو ځای کیږی او ارتباطات ورسره نه نیسی نو موږ به دوی پریږدو چی خپلو کورونو ته ولاړ شی موږ دغسی دمخه هم له زیاترو عسکرو او صاحب منصبانو سره کړی دی موږ هغوی ددوی داقاربو یا قبیلو په کفالت پریښی دی چی خپل خپل کورونو ته ولاړ شی .

دامثالونه ددی دپاره وایم چی څو تاسی ته وښایم چی زموږ جهاد دخدای درضا دپاره دی نه قبیلوی یاقومی جنګ.

نو په دی لیار کی زیانونه اوخسارات زموږ په مادی معامله نه حسابیږی دثواب اوعقاب په حساب شمیرل کیږی اوددی ټولو نه زموږهدف دخدای (ج) رضا ترلاسه کول دی .

یو ورور پوښتنه وکړه چی حقانی صاحب که دانتخاباتو په باره کی خپل نظر څرګند کړی چی آیا دادمشکلاتو دحل لاره ده اوکه نه ؟

حقانی صاحب وویل : زه په تکرار وتاکید داخبره کوم چی موږ جهاد دسیاسی قومی یا قبیلوی مقاصدو په غرض نه دی شروع کړی ، زموږ جهاد شرعی جهاد دی اودخدای (ج) درضا لپاره ده نو که چیری موږله کمونستانو سره چی دخدای اواسلام دښمنان دی دانتخاباتو اوپه هغی په برخی اخیستلو اعتراف وکړو نو په هغه صورت کی به موږ ګناهګارشو ځکه چی موږ دومره قربانی ولی ورکړی ! که موږ له هغوی سره په انتخاباتو باندی موافقه وکړودامعنی لری چی په زندیق او مرتد باندی دمسلمان حکم کوو حال داچی اسلام داعمل ردوی اوجواز نه ورکوی او موږ داسلام تطبیقول غواړو .

دغه ورور بیا پوښتنه وکړه چی افغان ولس اکثراً مسلمانان دی اودانتخاباتو معنی همدا ده چی ولس خپل انتخاب وکړی نو که فرضاً افغانانو ته دانتخاباتو حق ورکړشی نو آیا دوی به کمونستان انتخاب کړی ؟

حقانی صاحب یی په ځواب کی وویل لومړی خو داچی زموږ موافقه دکمونست سړی په کاندیدلو چی که کامیاب هم نشی یومردود کار دی ، ځکه پدی صورت کی موږ دده په نسبت اقرار او اعتراف وکړاوداهغه خبره ده چی اسلام یی ردوی چی کمونست دی په مسلمان باندی حکم وکړی اوداهغه مسله ده چی موږ یی دیته هڅولی یو چی داڅو کاله جهاد وکړو .

موږ فقط دخدای دقانون حاکمیت په خاطر پدی کار اقدام کړی اوپدی کی څه پټه خبره نشته .

اما دخلکو رأی ورکول کمونستانو ته دابیله مسله ده اوکه چیرته موږ له هغو کسانو سره چی دټولو بدبختیو او ورانیو مرتکبین دی پر انتخاباتو موافقه وکړو نو موږ به دوی په رسمیت وپیژنو.

پوستنه وشوه چی انتخابات دجنګ سلاح ده چی باید پر کمونستانو استعمال شی اودایوه سیاسی وسله ده ؟

حقانی صاحب وویل: زه به تاسو ته دانتخاباتو ردول په مطلوب شکل ووایم ، لکه چی تاسی پوهیږی ځینو اسلامی هیوادونو کی بنځی هم حکومت کړی دی اوداکار دعمومی انتخاباتو په نتیجه کی شوی دی اواسلام داشی نه منی په افغانستان کی همداسی حالت پر موږ باندی هم دی.کمونست سړی به ونشی کولای چی اول یادویم وار کامیاب شی ولی دوی کولای شی چی په بل شکل ظاهرشی او شاید داسلام په لباس کی ځان قدرت ته ورسوی ، مثلا مشهور کمونست لکه نجیب کولای شی داسی کسان رامخی ته کړی چی ورسره مرسته وکړی بعضی ددوی نه اوس هم ورسره دی اوولس ته وایی چی دوی کمونستان نه دی نو لدی کبله موږ دانتخاباتو دا اسلوب اوطریقه ردوو او موږ هغه تشکیل شوی شوراړ چی داهل حل وعقد نه چی مشهود په صلاح اوتقوی وی قبلوو او موږ ته دمنلو وړدی .

یو بل ورور پوښتنه وکړه دشوراء دتجربو نه چی همدااوس یی دوی جوړه کړی اویاداشوراء به داسلامی حکومت دجوړیدو نه وروسته هم دوام ولری اودڅه منظور دپاره به وی ؟

حقانی صاحب داسی ځواب ورکړ :
داسلامی دولت جوړول مشکل کار ندی خو که چیری په دی برخه کی زموږ سره د څه شی کمښت احساس شی نو ممکن چی موږدځینو اسلامی دولتونو په مرسته هغه مشکل حل کړو .

دشوراء مجلس جوړول هم څه ګران کار نه دی مثلاً دټول افغانستان نه ۳۰۰۰ کسان انتخاب کیږی اودوی به داهل حل وعقد دعلماوو او مفکرینو نه انتخاب کیږی

اودوی به دخپل منځ نه ۳۰۰ یا ۲۰۰ کسان انتخاب کړی نو دوی به دحکومت رئیس اوخپله حکومت جوړ او تشکیل کړی .

په همدی طریقه دقوماندانانو دسرتاسری شورا هم دټول افغانستان په سطحه تشکیل شوه اوداکار په موږ کی یو معمول عمل دی .

حقانی صاحب دغربی مطبوعاتو په رابطه چی دجهاد پر ضد زهرجن

(په اتم مخ کی)

ددری اړخیزو خبرواترو ددویم پړاو ...

، دحکمتیارصاحب اسلامی حزب دخبرو اترو تر پیل کیدو دمخه دیوی اعلامیی په ترڅ په دغه خبرو اترو کی دګډون لپاره ځینی شرطونه اوغوښتنی طرحه کړی وی اودغسی داستاد سیاف په مشری دافغانستان اسلامی اتحاد هم چی په لومړی پړاو کی یی هیئت ګډون درلود خو بیایی غونډه تحریم کړه دیولړ عواملو له مخی په دی خبرو اترو کی له برخی اخیستلو څخه ډډه کړی ده .

ددغه پړاو دخبرو اترو په ګډه اعلامیه کی راغلی داخبره چی مجاهدین باید مسکو ته هیئت ولیږی اوله روسانو سره نیغ په نیغه خبری وکړی،داچی داخبری دی وشی اوکه نه ، اوکه وشی دهیئتونو په کومه سطحه دی سرته ورسیږی ؟ داخبری دی په روسیه کی وشی اوکه په کوم بل دریم ګړی هیواد کی ؟ داهغه خبری دی چی دجهادی قیادتونو تر منځ پری ژور اختلاف موجود دی اوډیر سرخوږونکی بحثونه پری شوی. دمخه هم هیئت ترتیب شوی اوبیابیرته راګرځولی شوی او حتی کلکه پښیمانتیا پری څرګنده شوی ده .

په همدی توګه دملګرو ملتونو دسرمنشی سره دلیدنی کتنی او هغه ته دمسلی په اړه دنظراو غوښتنو څرګندولو په اړه هم زموږ ټول جهادی مشران په یوه خوله اویوه نظر نه دی ځینی یی دافغانستان دقضیی په اړه دملګرو ملتونو پنځه فقریزه طرحه له یوی مخی ردوی اوهغه دافغانستان دجهاد په وړاندی دشرق او غرب ګډه توطیه اوسازش بولی ، ځینی یی بیا له لږو اویو شمیرنور یی تقریبا له زیاتوخبرو سره موافقه لری اوهغه دقضیی دحل په باب رغنده پیشنهادونه ګنی .

ترکومه چی خبره ددغو دری اړخیزو مذاکراتو په تداوم پوری اړه لری دخبرو اترو دپیلامی ، ادامی دتیروشویو جریاناتواودجهادی ځواکونو دبیلو بیلو دریځونو اوجلا جلا نظرونو له اوسنی وضعی څخه خوداسی ښکاری چی احتمال لری راتلونکی پړاو تردی هم نا مطلوبی نتیجی ولری اودصفونو اودریځونو په لاجلا والی کی خپله اغیزه وښیی .

په دی حساسو شیبو کی چی زموږ اسلامی انقلاب دبری پړاو ته نږدی دی هلته اودلته دسیاسی خبرواترو په ټه کیناستل اوله وسله وال جهاد څخه لاس ویستل، سنګرونه سړول دجهاد اواسلامی انقلاب له آرمانونو سره دجفا اویوی ستری خطا په مفهوم تلقی کیږی ، له ټولو جهادی ځواکونو څخه په عامه توګه اوله جهادی قیادتونو څخه په خاصه زموږ دمجاهد ملت غوښتنه او تقاضا داده چی دجهاد په نظامی اوسیاسی ډګر کی دیو واحد صف اودریځ په نیولو سره زموږ اسلامی انقلاب دبری په مخکی رامنځته شوی خنډونه او ځنډونه لری کړی .

ومن الله التوفیق

هفتاد سال حیات ننگین وسیاه

دستگاه جابرانه کمونیزم روس که در سال ۱۹۱۷ دراثر توطئه گری های لینن این جاسوس المان نازی بر کشور روسیه حاکم گشت متشکل ازسه قوه جابره وبیرحم بود که مشتمل بود بر حزب کمونست روسیه،دستگاه اختناق وبیرحمی کی ، جی ، بی وارگان اردو که شامل بر قوای نظام عسکری وپولیس بود. این دو ارگان اخیر خدمت گذاران حزب کمونست روس بودند که برای بقای حزب ازهیچ نوع عمل ضد انسانی دریغ نمی ورزیدند .

همانطوریکه گفته شد ابرو وحیثیت سه ارگان یاد شده که در واقعیت فرمانروایان جامعه شوروی بودند دراثر شکست قوای روس در افغانستان نزد مردم روسیه شدیداً لطمه دیده بود همچنان سیاست بازسازی گرباچوف نیز که بمثابه تلاش بخاطر تجدید ماشین پوسیده کمونیزم بود توانست در رابطه به حاکمیت بلامنازعه کمونست ها افراد کی ، جی ، بی وکهنه پیخ های اردوی روس بر جامعه شورروی ، سوالاتی رادرپیش گذارد .

کودتای ۲۸ اسد تلاش مذبوحانه افراد وابسته به همین سه گروه فاسد وجابر بود بخاطر احیای دوره بربریت گذشته ، که دراثر مقاومت مردم روسیه شورروی به شکست مواجه گردید .

همانطوریکه درسال ۱۹۱۷ حوادث یکی پی دیگری بسود انها دیگر گون می شد بعد از شکست کودتای کمونستان در روسیه اکنون حوادث یکی بعد دیگری بزیان انها پیش می اید بعد از شکست کودتای کمونستان تمام مردم روسیه شورروی ازگورباچوف خواستند تاحزب کمونست وکمونستان را بحیث خاینین ملی اعلام نماید گرباچف باشرمسای زیاد ازوابستگی خود به حزب کمونست روس ، از رهبری ان استعفا وحزب رامنحل اعلام کرد ، دارایی حزب کمونست روس که معادل ۱.۵ ملیارد دالر نقد و ۳.۵ ملیارد دالر غیر منقول بود ملی گردید.فعالیت سازمانهای حزبی در تمام دفاتر بشمول اردو ممنوع اعلام گردید واخبار حزب پراودا مصادر شد ، همچنان مردم بر دستگاه کی ، جی ، بی بحیث قاتل ملیونها مردم روسیه شورروی هجوم برده مجسمه «دیرژنسکی »بنیان گذار انرا سرنگون نمودند تشکیلات گسترده کی ، جی ، بی ازطرف رهبران جدید سخت تحت ضربه امده وبا دستگاه اردو یکجا توسط افراد اصلاح طلب خورد وخمیر شدند البته اینها همه نتیجه منطقی کار کردهای حزب کمونست در جامعه روسیه شورروی بود ، در تمام شهرهای شورروی مجسمه های لینن ومارکس بشکل توهین امیز سرنگون شدند بشمول داس وچکش که در حقیقت علایم عذاب مردم روسیه بودند از بیرق برداشته شدند .

گذشته از دستگاه رهبری جمهوری های شوروی که در طول روز گار وادوار مختلف باجبرو ستیز وسازش ها تحت سلطه حکومت روس ها و کمونست در اورده شده بودند بعد ازین تحول یکی پی دیگری ازادی واستقلال کامل خویش را اعلام می نمایند که کنون ازجمله پانزده جمهوری ده جمهوری طالب استقلال کامل میباشند .

حوادث در روسیه انچنان سریع ، تند و گسترده است که ناظرین نمیتونند سمت این جریانات راپیشگویی نمایند ولی انچه مبرهن است اینست که جمهوری های تحت سلطه ومحکوم شورروی در داعیه ازادی خواهی خویش مصمم تر وبه شماران روز تا روز افزوده می گردد بناً چنان بنظر میرسد که نا بسامانی وعدم استقرار اوضاع همچنان ادامه خواهد یافت .

اگر دقت شود ریشه این همه طوفانها به ان ناکرده های ظلم وحشت وبربریت کمونستان روسیه میرسد که همه مردم رامحکوم حزب خویش نموده باتقرر افراد چکش وداس بدست کی ، جی ، بی با سلب ازادی بیان ، ازادی مذهبی وغیره برد هن مردم روس قفل زده بودند امروز ان همه عقده های واپس زده شده مردم به دریای خروشان مبدل گشته حزب کمونست روسیه ، کی ، جی ، بی و اردو این دارودسته جبر وستم راباخود برد. اگر ازحق نگذریم جنگ افغانستان ومقاومت دلیرانه و جانبازانه مردم افغانستان‌در برابر قوای وحشی اردوی سرخ روس که در جهان بعد ازجنگ دوم جهانی واشغال گری دراروپای شرقی سخت نامی گشته بود بمثابه سنگ محك بود که کذایی و پوچ بودن شهامت ساختمان ودسپلین پولادین اردوی سرخ کی ، جی ، بی وحزب کمونست روسیه را تسجیل وبه جهانیان افشا ساخت همچنان این ازمایش عدم کارایی وفرسوده گی دستگاه دولت روس رانیز که رهبری ان بدوش حزب کمونست بود هویدا ساخت وبالاخره جنگ افغانستان بود

(درصفحه ۵)

دوجمهوریت آسیای میانه آزادی خویش رااعلان نمودند

مسکو - ۹ سنبله :

به سلسله اعلان ازادی ازجانب جمهوریت های متعدد تحت سلطه روسیه شورروی دو جمهوریت مسلمان نشین اسیای میانه اذربائیجان ، وازبکستان اعلان خود مختاری نمودند .

اطلاعات رسیده از منابع خبری بین المللی حاکیست که تعداد جمهوریت های که اعلان آزادی کرده اند تاحال به ۱۱ جمهوریت رسیده است .

گفته می شود که پارلمان های این دو جمهوریت بااکثریت ارا فیصله خود مختاری این جمهوریت ها را منظورنموده است .

همچنان گفته می شود که رئیس جمهورازبکستان از اختیارات وسیعی که بعد از کودتای نافرجام کمونست های افراطی بدست بوریس یلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه امده است اظهار ناخوشنودی نموده وگفته است که وی نمی خواهد ازبکستان در ردیف جمهوریت های درجه دوم قرار داده شود .

رد ادعای رژیم از جانب احمد شاه مسعود

یك منبع مسول در دفتر سیاسی شورای قوماندانان به نقل ازپیام مخابروی احمد شاه مسعود رئیس شورای نظار جمعیت اسلامی گزارش داد که ادعای رژیم ملحد کابل در توجیه بمباردمان مناطق تحت اداره شورای نظار در شمال کشور که گویا هدف از ان ازبین بردن ذخایر مهمات نظامی وتاسیسات اداری مجاهدین در مناطق مذکوربوده است عاری از حقیقت وکذب محض است .

درپیام امده است که مجاهدین هیچگاه در ساحات مسکونی اقدام به تاسیس ادارات رسمی وجابجای مهمات نظامی نه نموده ادارات مذکور تنها در مناطق کوهستانی جابجا است .

.هیئت تحریر ترنظر لاندي

مكاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورستي تاون پیښور

تیلفون : ...

۳۷ تن ازملیشه های رژیم اسیر شدند

جوزجان ، میدیا :

یك منبع جهادی ازولایت جوزجان گزارش میدهد که مجاهدین بروز ۵ سنبله بالای پوسته های امنیتی درعلاقه داری فیض آباد حمله کردند که در نتیجه یك پوسته امنیتی تسخیر ۱۰ نفر افراد نظامی رژیم هلاك ۱۷ نفر اسیر وعده دیگرانها زخمی ودوعراده تانك بردیم طعمه حریق گردیده است .

همچنان ۸ میل کلاشینکوف ٤ میل ماشیندار پیکا یك دستگاه مخابره «ار - ۱۰۵ » ویك مقدار مهمات نظامی غنمیت شده است.

به همین ترتیب یك گزارش دیگر ازاین ولایت حاکیست که مجاهدین برقرارگاه های نظامی دشمن درولسوالی سرپل حمله نمودند که درنتیجه دومرکز مهم نظامی انهارتسخیر ۲۰ تن از ملیشه هارااسیر و ۵ تن انها راکشته یا مجروح نمودند.

درطی این عملیات ۲۵ میل سلاح مختلف النوع رژیم به غنیمت گرفته شده است و ۷ تن از مجاهدین راه حق به شهادت رسیده اند.

زموږ پاڅون کومه قومي ، قبيلوي ...

تبلیغات کوی اوپه دی کار بی جهاد تر یوه حده متاثره کړی دی وویل : دایوحقیقت دی اوددوی په دی کار کی هیڅ شك نشته ، غرب دا کارونه په دوه علته کوی :

۱- دروسی قواو‌دوتلو نه وروسته غرب خپل هدف ته ورسید ، هغه څه یی چی غوښتل هغه یی تر لاسه شول دوی داسی مرحلی ته ورسیدل چی نور دمجاهدینو دخبرونو نشرولو ته محتاج نه دی او دمجاهدینو دکامیابیو او فتوحاتو څه پروانه لری .

دوی یوازی په دی بسنه ونکړه دوی ددښمنانو موقف غوره کړ حال داچی دوی تر پرونه پوری ویل مجاهدین په یوه صف دروسانو په مقابل کی جنګیږی نو دروسانو له وتلو نه وروسته اواوس دوی کله وایی چی مجاهدین دهیروینوتاجران دی اوکله بیا وایی چی دوی اتفاق نه کوی او یو بل سره وژنی اوداسی نور ... حتی تردی پوری چی دوی اوس داهم وایی داجنګ دنجیب پر ضد نه بلکه ددوی په خپل منځ کی جنګ دی .

همدا راز دوی زموږ دا وروستی فتحی ډیری کمی وښودی څکه چی دوی اوس په دی کار کی څه ګټه نه وینی .

دبل طرف نه غرب اوس دمسکو سره نژدی کیږی اوزموږ پرضد دریږی .

۲- دروسانو دوتلو نه وروسته موږ ډیر اسلامی دولتونه ولیدل چی دوی دهغو کسانو تر شا ودریدل چی دوی دسیاسی حل ناری وهی اوس دوی هم دهغو کسانوغوندی خبری کوی .

الحمد لله موږ وکولای شول چی دخوست نه پنځه دیرش زره میله وړه او غټه وسله ترلاسه کړو همدارازد ملیونونوروپیو په ارزښت زرهی ۸۰ ټانکونه اوپه سل ګونو نورعراده جات ، رادار ، مخابری داټول شیان موږ دخوست نه ترلاسه کړل .

همداسی شیان موږ په نورو ځایونو کی لکه قیصار ، چمتال ، زیباك ، خواجه غار .. ډیر زیاد شیان په غنمیت ونیول .

دغونډی په پای کی دالاتحاد جریدی دتحریر مدیر له حقانی صاحب نه ډیره مننه وکړه او ویی ویل چی زما اونورو مسلمانانو ارمان دادی چی بل ملاقات ډیر ژر دکابل په ښار کی وشی(ان شاالله اوس دوی هم دهغو تعالی.)

په مقابل کی حقانی صاحب داماراتو دولس اودحکومت نه مننه وکړه چی دوی دجهاد له پیل نه تراوسه دمجاهدینو په څنګ کی دریدلی دی اوهمدا راز دالاتحاد دجریدی دمسؤلینو نه یی مننه وکړه چی دوی دجهاد په خدمت کی دهرنوع کوشش نه ځان نه دی ژغورلی .

دبریتانیی صدراعظم دخبرو اترو لپاره مسکو ته ورسید

لندن، دسنبلی ۱۱ مه :

دنړیوالو خبری منابعو دخبر له مخی دبریتانیی صدراعظم جان میجر تیره ورځ په روانو حالاتو باندی دخبرو اترو لپاره مسکو ته ورسید.ویل کیږی چی هلته به نوموړی دجمهور رئیس گورباچوف اودروسیی فدراسیون جمهور رئیس بورس یلتسین سرهو وینی ، جان میجر چی داوو صنعتی هیوادومشر هم دی مسکو ته له ورتګ څخه مخکی دامریکی دجمهور رئیس بش دلیدلو لپاره امریکا ته هم تللی وو.

په کندهار کې دمجاهدینو بریالی عملیات

په کویته کی دمیدیا نمایندګی دکندهار ولایت څخه رپوټ ورکړی چی دکندهار مجاهدینو ددرندو وسلو څخه په استفادی سره دسنبلی په ۷ مه نیټه دکندهار په هوایی ډګرباندی یو لړ بریدونه وکړل چی په نتیجه کی ددښمن یو شمیر سنګرونه ویجاړ او سربیره پر سخت ځانی اومالی تلفاتو دوسلو او مهماتو یوه لویه ډیپو هم تباه شوی ده . خبر ځای په یو بل رپوټ کی زیاتوی چی دمجاهدینو لخوا یو مین دکندهار ښار په یوه برخه کی چی دسنبلی په ٦ مه نیټه ځای پر ځای شوی وه وچاودید چی دررژیم دقواؤ یو تن وژل شوی یو شمیر ټپیان اودرانده مالی تاوان وراوړیدلی دی. همدارنګه میدیا دکندهار له ولایت نه دخپل خبریال درپوټ په اساس خبر ورکړی چی مجاهدینو دهوایی ډګر په جنوب کی دررژیم پر پرتو پوستو برید وکړ چی په نتیجه کی دررژیم دقواؤ دوه پوستی دخواجه خیلو په سیمه کی فتحه یو شمیر عسکر اوملیشه مړه اوپاتی نور یی په تیښته بریالی شوی دی .پدی جګړه کی دررژیم دقواو یوه عراده ټانك له منځه تللی او یو شمیر وسلی او مهمات یی په ولجه نیول شوی دی .په یو بل رپوټ کی ویل شوی چی مجاهدینو دمرد قلعه دسیمی پر پوستو باندی تعرضی برید وکړ او دررژیم یو شمیرپوځیان یی مړه او ۱۱ تنو نور و د۱۱ میله کلاشینکوفونو اویو میل راکټ سره ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړیدی .

همدارنګه مجاهدینو دسنبلی په ۹ مه نیټه دقشله جدید پر پوځی مرکزونو دتوپونو ډزی وکړی دررژیم دقواو دوسلو یوه ډیپو یی تباه او یو شمیر عسکراوملیشه وژل شوی دی .

همداراز نوموړی منبع په خپل یوه بل رپوټ کی وایی چی : دهلمند ولایت دګرشك پر ولسوالی اوشاوخوا امنیتی پوستومجاهدینو ددرندو وسلو ډزی وکړی چی په نتیجه کی دکابل رژیم دقواؤ دوه پوستی فتح ، یو شمیر عسکر اوملیشه مړه اودری عرادی ټانکونه داور لمبه شوی دی .

پوسته های دشت بابوس مورد حمله قرار گرفت

لوگر ، میدیا :

طبق یك راپور از ولایت لوگر مجاهدین بالای پوسته های رژیم کابل در منطقه دشت بابوس عملیات نمودند که در نتیجه تعدادی ازعساکر دشمن هلاك ویا زخمی گردیده وخسارات زیاد مالی نیز به دشمن وارد گردیده است .

راپور می افزاید که طی این نبرد ۹ تن از عساکر رژیم ملحد کابل با یك میل زیکویك ، دومیل پیکا ، یك میل راکت ارپی جی ، هفت میل کلاشینکوف ومقادیری ازمهمات تسلیم مجاهدین گردیدند .